Sangat Translation Series

**20**

# GHDDAR

Novel

*By Kirshan Chandar*

Translation from Urdu to Pashto

*Abida Rehman*

Sangat Academy of Sciences

سوویت انقلاب کے 100 سال

1917 – 2017

کرشن چندر

# غدّار

پښتو کې ترجمه: عابده رحمان

سجیں حقوق سنگت اکیڈمی اے ناما محفوظ انت

Copyright @ Sangat Academy of Sciences

## کتاب پژندنه:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | غدّار |
| لیکوال | :: | کرشن چندر |
| ژباړونکی | :: | عابده رحمان |
| خپروونکی | :: | سنگت اکيډمي آف ساینسز،۔ کوټه |
| چاپ کال | :: | 2017 |
| چاپ شمېر | :: | زر (500) ټوکه |
| بیه | :: | 200 روپۍ |

د هر هغه غدّار

په نوم

چې ثوک

د ظلم، نا انصافي او  د

استحصال خلاف

آواز اوچټوي!

# لــړلــیک


لومړی باب..................................................7
دویم باب .................................................22
دریم باب .................................................37
څلورم باب ...............................................50
پنځم باب .................................................60
شپږم باب.................................................68
اووَم باب .................................................77
اتم باب ...................................................82
نهم باب ...................................................98
لسم باب .................................................101
یولسم باب ..............................................105

# ړومبی باب

دويم اګست ۱۹۴۷ کښ زه د مور د طرفه د نيکه کره وم. زما نيکه په لالي کلي کښ دی. کلی لاله د قلا سوبها سنګ د سټېشن سره نزدې دی. سټېشن نه څه پاو کم يو ميل يا پاو باندي يو ميل فاصله به وي. کلي لاله کښ زمونږ د برهمنو آبادي ډېره ده. هغي نه پس د کهتريانو کورونه دي. او ټولو نه لږه آبادي د مسلمانانو ده. زما نيکه دي د ګوروګوسايانو د کورنۍ په نوم ياديږي چي په برهمنو کښ د ټولونه اوچت وي. د زرګونو کلونو نه مونږ په دې کلي کښ آباد يو. وائي چي په يوه زمانه کښ په دې ټوله علاقه کښ زموږه خاني وه.اوس هم په لاله کلي کښ د ټولو نه اوچته کورنۍ د محلان په نوم ياديږي چي رمپال برهمنو د خپل عروج په زمانه کښ تعمير کړي وه. حوېلي څه ده، د زړې زمانې يوه قلعه شان ده. چي په شمال مغرب کښ شګني خټونه او خورۀ وهلي د بنجرو زمکو يوه سلسله د لري پوري تلي ده چرته چي صرف دړب راخيزي او د نلونو د ځنګل د اوږدو اوږدو سپين مالوچو په شان زونډو سره د زمکي نه راخيزي.او چي کله سيلۍ دې ځنګل کښ تېريږي نو د يو سر نه واخله د بل سره پوري داسي ټيل وهي لکه چي لق و دق صحرا کښ ګڼو مرغابيانو وزړي خلاصې کړي وي او د لري پوري منډي وهي. زما د نلونو ځنګل ډېر خوښ وي. ما او شادان به غرمه کښ، چي کله به د هغې مور اوودۀ شوه، دلته به ملاوېدو. حالانکې د محلان لوئي ورته مخامخ چي کومه کچه

لار تله هغه د ګنو د پټو نه تېریدله. د کومو ورځو خبره چي زه کومه په هغه ورځو کې د ګنو فصل ځوان او دنګ وو او د هغې شنه فصلونو به عاشقانو له پناه ورکوله خو زما او د شادان به د نلونو ځنګل خوښ وو ځکه چي مونږ به چي کله په خبرو خبرو کې چپ شواو د شادان د خړو ویښتویو پیکی به د هغې په سپین تندي خور شو او د هغې په غټو سترګو کې به د حیرت او خفګان سوري ګډوډ شو نو هغه وخت به په درَبو او نلونو کې تېرېدلو سیلۍ به زمونږ د زړونوسره پټې پټې خبرې کولې او د هغې په رو رو خوږ غږ کې به د ناآشنا خوبونو ګونګري شړنګېدل. د هغې په رېښمینو آوازونو کې به د هغې ښائسته قیصو بازګشت اورېدل کیدو چې مینه هردېوال، رکاوټ، هري لوړي ژوري نه به تیره شوه او په تور آسمان به یوه رنګینه جوړه شوه. په نلونو کې خو سیلۍ خبَري کوي خو د ګنو په پټي کې ئي ساه داسي بنده شي لکه چي په هره لحظه ورته د سماج، د مزهب او د زړو اعتقادونو ویره وي! او چرته چي سیلۍ لا هم وېریږي نو هلته به عشق څه وده وکړي؟ نو زکه مونږ د نلونو په ځنګل کې پناه اخیستي وه چي د هغې سپین ریښمین زونډي به د نرو نازکو تنو په سر ولاړ زمونږ د عشق په شان به مغروره ښکارېدل.

د دویم اګست د غرمي خبَره ده. زمونږ شاته د نلونو ځنګل او. او د ځنګل نه شاته زمونږ کلی وو. او مونږ ته مخا مخ د لري پوري په میلونو بنجر زمکه وه چي خوَری ختمه کړي وه. سحر باران ورېدیلی وو خو په آسمان باندي سپینو وریځو لکه د چرګ خپله سینه خوَره په خپل ځان کې ئي د باران دانې پټې کړي

وي او اخوا دېخوا ګرځېدل. په هوا کې د اوبو نمي وه او د خاورو خوړ بوئي. او لري د مغرب ډډي ته یوه داسي شفا فه رڼا وه، دومره شفافه لکه چي اوس به ویلې شي او د بوډۍ ټال به جوړ شي.

زما لاس د شادان په لاس کې وو او مونږ دواړو آسمان ته داسي کتل لکه چي هیله به یو مسافر وي او هم د دغي لاري نه به راځي.

ما د شادان لاس رو شان او زورلو او ورته مې وویل : " یوه ورځ به ته ما هېر کې!"

شادان د سینی نه یو آه ووتله خو خاموشه وه. هغه د دې سوال هیڅ جواب را نه کړو، او هغه به د دې سوال جواب هم څه راکړی وی چي کوم سوال د ازل نه رایسته ښځه د سړي نه او سړی د ښځې نه کوي.

څومره زوړ سوال دی خو هر ځل څومره نوی ښکاري. داسي ښکاري لکه چي نن په لومړي ځل دا سوال شوی وي.

ما بیا ووئیل؛ " یو ورځ به ته واده شې"

" او زه به واده شم. بېخي هغه شان لکه چي څنګه چي ستا واده شوی دی". هغې ماته نه کتل او رو شان ئي ووئیل. د هغې نظر لا د اوسه پورې په آسمان هم هغلته نښتی وو.

" زما واده خو زما مور او پلار په وړوکوالي کي کړی وو" ما احتجاجا ووئیل.

شادان ووئیل : " او ستا خیال دی چي زه به په خوښه واد کولی شم؟"

ما سر ټیټ کړو.

شادان د آسمان نه سترګي واړولي لکه چي د هلته نه مایوسه شوه. بیا هغې زما زنه ونیوله او زما ټیټ سر ئي اوچت کړو او خپل ګلابي اننګی ئي زما د اننګو سره وجنګوؤ او په رو رو ډېر په مینه او مضبوطۍ سره ئي ووئیل:

هسي خو به زه واده شم او زما بچي به هم وشي او زه به هغوئ د پاره یوه ښه مور، خپل خاوند د پاره یوه نیکه او اطاعت شعاره ښځه جوړه شم اوزما به کور وي او د ژوند ټولي خوشحالیاني چي یوه ښځه غواړي ماته به نصیب وي خو یو چرته زما دننه ، ډېر ژور زما دننه، اوزما د لړمون نه هم ډیر لري دننه، چرته چي د ښځي روح اوسي، هلته به ته تر تله موجود اوسې!"

" ته به ما یادیوې؟"

شادان به یو څه راته وې چي د لري نه ده نلونو په ځنګل کې یو غږ شواو هغه یو دم چپ شوه. مونږه ساه ونیوله او آواز ته غوَږ شو، د فکر او د حیرت سره ځکه چپ دې وخت کي به دلته هیڅوک نه راتللی. چي آواز رانیزدې شو نو مونږه دواړو یو بل ته اشاره وکړه او په خپل ځي ودرېدلو. او بیا په غلي غلي قدمونود ځنګل بلې ډډي ته لاړو.

ناساپه آواز یو خاص ځي ته لاړو او ودرېدو، بیا چا ووئیل:

اسلام علیکم!"

" واعلیکم سلام"

شادان دویم آوازاو پیژندو. هغي چغه وهله چي ما ورله زر په خوله لاس کیښودو. دویم آواز ما هم او پیژندو. دا د هغي د رور د طفیل آواز او. طفیل او شادان دواړو لاهور کالج کې سبق وئیلی وو دواړه په چټیانو کې دلته، خپل کلي ته راغلي وو.

لومړي آواز والا سړي ووئیل: " زه چک تارا نه پیرقلندر شاه دلته رالیږلی یم".

" هم هغه زبرګنج والا پیر قلندر شاه"

څه پیغام دی؟"

" هغه پیغام د ملک سر بلند په نوم دی".

" زه د سر بلند زوئ طفیل یم".

نا آشنا کس لږ ساعت پوري چپ وو، بیا ئې رو غوندي ووئیل: " پیر قلندر شاه وئیل تاسو د اوسه پوري په کلي لاله کې هغه سلسله نه ده شروع کړي. دا غلطه خبره ده، پکار ده چي د اګست د پنځلسمې پوري ټوله فیصله وشي".

"څنګه فیصله؟"

" پیر قلندر شاه ویلي دي چي د پنځلسم اګست پوري دي ده کلي ټول هندوان زلمي ووژل شي. ده هندوانو ټولې ځواني ښځې چي کومي دلته راغونډي شوي دي یا راغونډیږي یا د شا او خوا د علاقو نه راروانې دي هغوئ ټولي وساتیئي. البته بوډاګان سړي، ښځي او ماشومان پریږدی".

شادان زما سینې سره راجوښته شوه. زمونږ د دواړو زړونه درزېدل. مونږ دواړو یو بل ته اوکتل او یو بل ته  ور تر غاړه وتو.

لږ ساعت پس طفیل ووئیل: " زما پلار هم یو پیغام ستا د پیر قلندر شاه په نوم راکړی دی".

" هغه څه ؟" نا آشنا کس ووئیل.

" زما پلار ووئیل چي دا کار زما نه نه کیږي. د سلو کالو نه مونږ دي کلي کې اوسیږو، زمونږ نه دا کار نه کیږي".

" دې صورت کې زمونږ چک تارا والابه پخپله راځو او دا کار به کوو". ناآشنا کس طفیل له دهمکي ورکړه. طفیل چپ وو. ډېر ساعت پوري د نلونو په ځنګل کې خاموشي وه. آخر نا آشنا خاموشي ماته کړه او و ئې وئیل: " ښه زه ځم"

د دوه کسانو قدَمونه د نلونو په ځنګل کې بېلې بېلې ډډي ته تاو شو او زمونږ نه لري شو. لږ ساعت پس په ځنګل کي خاموشي شوه.

ما شادان د خپلي سینې نه جدا کړه او ورته و مې  وئیل: " اوس  ته فوراً کورته لاړه شه".

هغه په زوره زما سينې ته راجوښته شوه او و وئيل : " نه ، نه زه نه ځم. چرته چي ته ځي هلته به ځم!"

يو پيکا شان مسکان زما شونډوله راغی او ورته و مي وئيل: " تا هر څه واورېدل کنه؟"

" نه، نه". هغې په پرېشانه نظر ماته وکتل او و ئې وئيل: " هغوئ داسې نشي کولی!...... رشتيا! هغوئ داسي نشي کولی!! مونږ ټول خو د دې زمکي اولاد يو".

زمکه خو هس کله هم زهر نه رااوباسي شادان. زمکي نه خو شنه شنه غوټی را غوړيږي. خو تا به ليدلي وي چي کله بهر جاکړ چليږي نو يو ساعت کې شنه شنه فصلونه تباه شي! په دې کې د زمکي څه ګناه ده؟"

شادان سرکښته کړو. ما هغه د ځان نه جدا کړه او ورته مي وئيل: " ته زر کورته لاړه شه ګني غضب به و شي. سينکړه ځله د ملاوېدو نه پس هم چي د کوم شي فيصله و نه شوه د هغې به نن څه لاره وَزي. هغه خلق ډېر چالاکه دي شادان. هغوئ زمونږ وطن ټوټې کوي او ټولو نه مخکې هغوئ زمونږ د زړونو ټوټې کړي دي! ويش خو اصل کي د زړونو نه شروع شوی دی؟"

" دا خبره ته ماته کوې؟" شادان ګِله وکړه

" تاته نه کوم، شايد چي دا خبره زه اوس د نلونو دې ځنګل ته کومه. هغې لارې ته کوم چي هيله په هيڅ کله هم ماله لکه د

مسافر غوندي را نه شي! اوس ته څه کورته لاړه شه. زه محلان ته خبر ورم!"

شادان په ژړا لاړه. ما په محلان کې ټول خبر کړل. ډېرو ورځو نه کلي لاله ته د خوا و شا د کلو نه د برهمنو او دکهتريانو واده شوي جينکۍ راغونډيږي. دا خبره ئي چي واورېده نو غم جوړ شو. لږ ساعت پس ملک سر بلند په منډه منډه زمونږ کور ته راغی. هغه زما د نيا ايشور کور ډېر عزت کولو. زما نيا د ټول کلي مشره وه او په کلي کې چي څه هندو وائي، څه مسلمان، څه سيک، هيچا به د هغې خبره لاندي نه غورزوله. د هغي عمرپنځه اتيا کاله ووخوښکاري دۀ به د سلو کالو. هغي د راتلو سره ملک ته په قهر شوه:

" يه سر بلنده" نيا ملک ته کنځل وکړل او  و ئې وئيل، " خاورې شې ! ايرې شې! دا زه څه اورم؟"

سربلند راغلی او د ايشور کورپښو له ئې لاس وروړو او و ئې ويل  " مورا! مونږ ستا ځامن يو. چي تر څو مونږ ژوندي يود چک تارا خلق زمونږ لوښو خوندو ته په کاږه نظر نه شي کتلی. د کلي د ټولو مسلمانانودا متفقه فيصله ده!"

په وچو شونډو د خوشحالی خندا خوَره شوه. ماتا ايشور کور پوهي ده چي ملک سر بلند دروغ نه وائي. ټرلي شوي اسپابونه بيرته خلاص شو. د پنډوکو نه سامان را بهر کړی شو. پخې ښځي په پخَوَلو سرَولو کې و لګېدي. پيغلو په آئينه کې

په خپلو غټو غټو سترګو کې کجل لګول شروع کړل او د خپل ښائست نه پخپله او شرمېدلي او په پلوو کې پټې شوي.

دو درې ورځي په اطمنان تېرې شوې. هيڅ قسمه څه نا خوشګوار واقعه و نه شوه. هندوانو او مسلمانانوبه په شريکه د کلي خواوشا کې څوکی ورکولې. د پريشانی خبره دا وه چي کلي لاله ته د خوا و شا د علاقو نه د برهمنو او د کهتريانوکورنۍ د پناه د پاره يو مخه راروان وو. هيچرته جنګ نه و شوی خو لکه د طوفان نه مخکي چې څنګه مرغۍ هوا بوی کړي او جالا پريږدي او مخالفو ډډو ته والوَځي، هم دغه شان کلي ته هم د هندوانو د قافلو جوپي راروانې وي.

د اګست په پنځم تاريخ په ماښام د چک تارا د کلي د ډډي نه نغارئي( طبل) وهَل کېدو. د نغارئي آواز اوچت او نزدېکېدو. محلان کې ښځوپه چغو چغو ژړا شروع کړه. ډېري ښځي پکې بې هوشه شوې. وړو زګو په ژړا ژړا غم جوړ کړو. عين په دغه وخت ملک سر بلند راغلی او وئيل ئې چې، " د چک تارا نه د پنځه سوه مسلمانانو جوپه راروانه ده. مونږ د مداخلت کولو والا ټول پنځوس مسلمانان يو. زه تاسو نه شم بچ کولی، تاسو ټول خپل خپل فکر اوکړی". د سر بلند د تلو نه پس داسي منډې شوې چي تاته نه شم وئيلی. مور نه لور هېره شوه، لور نه پلار او پلار نه خپل اولاد. چرته چې د چا مخه شوه هلته د محلان نه اوتښتېدل. په لږ ساعت کې د محلان حوېلي خوشي شوه. تش د تياري په يو ګوټ کې نيا په پالنګ غلي ملاسته وه. چي

زه ئې پښو ته نزدې شوم نو ماته ئې ووئيل: اې بدنصيبه ته لا نه ړي؟"

" نيا ابۍ زه به تا بوځم"

" څنګه به ما بوځې. زه خو نه شم ګرځېدی؟"

" زه به دې پخپله وره کښېنوم او بو به دې ځم"

"چي خپلو ځامنو بو نه تلم نو ته به مي څه بوزې!" د بوډۍ نيا په سترګوکې اوښکې راغلې.

" زه به دې بوځم" زه نيا ته ورنيزدې شوم چي په پخپلي ورې ئې راواخلم.

" خبردار که ماله دې لاس راوړو! ما هم دغلته پرېږده!" د نغارو آواز رانيزدې شو.

" نيا ولي ته دا آواز نه اورې. هغه خلق رانيزدې شول".

" زه لږ اوچت اورم" نيا ابۍ ووئيل

" او بهګوان دي وکړي چي زه څه اورم هغه دي هيڅ کله وانه ورم. ته ما دلته پرېږده اوځه. هغوئ به ماته هيڅ نه وائي. پير قلندر شاه! هون، د پير قلندر شاه بچيه! هغه خو دې راشي زما مخې ته؟ چي هغه له نه وو پيدا شوی، چي د هغه مور راواده شوي وه، زه پخپله چک تارا ته تلي ومه او د هغه مور له مې د شګون جوړه ورکړي وه. هغه خو دې راشي زما مخي ته؟"

" خو نیا ابیۍ!"

" ته ځه. زه تاته وایم چي ته خپل خون زما په سر مه اخله. زه ډېرې خبري نه شم کولی!"نیا ابۍ بلې ډډي ته واوړېده او ماته ئې شا کړه، او زه د ټیټ سر سره ده محلات نه راووتم. د لوئي ور نه را وو تم او په هغه کچه لاره راوان شوم چي د ګنو مینځ له تله. ناساپه ماته یو څه رایاد شواو زه د کچه لاري نه راستون شوم او د محلان بلي ډډي ته لاړم، چرته چي د نلونو ځنګل وو. اوس د نغارو د آواز سره سره د الله اکبر نعرې هم صفا صفا اورېدل کېدو. الله اکبر یعني خدائې ډېر لوئي دی؛ او انسان ډېر وړوکی دی؛ تنګ نظر، کمینه او د نفرت بنده دی. او چي د تهذیب د اوچتې نه اوچتې منارې ته هم ورسي خود خپل د فطرت د اظهارنه به بچ نه شي ځکه چي هغه تش یو انسان دی، خدای نه دی. ځکه ما دې نعرو له هیڅ اهمیت ور نه کړو. آخري ځل د لیدو د پاره د نلونو ځنګل ډډي ته لاړم کوم ځي کې چي به ما او شادان به د غرمې کښېنستو خو هلته اوس هیڅ نه وو. ما ډېر په حسرت هغه ځي ته وکتل. هسې خو په هغه ځي کې څه خاص خبره نه وه؛ یو شګن شان خټ اوچرته چي به مونږه کښېنستو. مخامخ بنجر زمکه وه. آسمان د خړیزوتورو وریځو نه ډک وو. دلته خوهیڅ هم داسي نه وو. شنې ونې، ښائسته ګلونه، رنګین آسمان، آبشار، غرونه، اوبه، ډنډ...... هیڅ خو هم نه وو چي په دې زمکه شاعري کیږي. بیا هم دا ځای د جنت ټوټه ولي ښکارېده؟

" شادان! شادان!!" ما رو شان آواز ورکړو. زمونږ د ملاوېدو هم دغه قاعده وه. هغه به مخته په ځنګل کښ پټه شوه او چي کله به زه راغلم نو هغښ ته به مي نعرښ کړښ. او هغه به د ځنګل نه را ووتله او ماته به را تر غاړه وته! زه خبر وم چښ هغه دي وخت کي دلته نشته، بیا هم زما ضدي زړه غږ کړو: "شادان! شادان!"

خو هلته هیڅ نه وو. ځنګل خاموشه ولاړ وو، د نلونو په سرسپینو زونډو باندي ماښامي تیاري خوَرښ شوښ. زه زر د هغه ځي نه وتښتېدم او د قلا سوبها سنګ د سټېشن ډډي ته مښ منډه کړه. که زه د ماخوستن اتنیمي بجو ګاډی ونیسم او ناروواڵ ته لاړ شم نو ماته به د ناروواڵ نه تر لاهوره پوري کنیکټنګ ګاډی ملاوشي!

په لاهور کښ زما پلار اوسېدو!

څه پاو کم یوه ګېنټه کښ زه د قلا سوبها سنګ سټېشن ته اورسېدم نو تیارۀ ښه ډېره شوي وه. سټېشن ته نزدښ د شوي یوه غټه ونه وه چي د هغښ په درزّ نونو شاخونه زمکي ته آویزان وو. دلته ډېره تیاره وه او په تیاره کښ څه عجیبه غوندي سوري په حرکت کښ ښکاره کیدل. په هر قدم مرګ ښکارېدو. ما همت وکړو او لږ مخته لاړم. ناساپه د شوي شاته نه یو سوری زما طرف ته راغلو. زه چي تاو شوم او مدافعت له مي لاس اوچت کو نو شادان را منډه کړه او زما غیږ کي راغله. د هغښ ویښته خواره وو. د قمیص لستوڼي شلېدلي وو او هغه پښښ بله پښښ په منډه راغلي وه.

هغې زرزر ووئیل: " ما طفیل ته هر څه ووئیل. هغه به تا لاهور ته په خیر سره ورسوي".

" طفیل به ما وژني نه؟"

" نه. ولي چي ما هغه سره لوظ وکړو چي زه به د هغه د ملګري آفتاب سره واده وکړم چي هغه د ډېر وخت نه ما سره واده کول غواړي!" هغې زرزر په ویره ووئیل، د هغې ساه راماته وه.

"خو طفیل کوم ځای دی؟"

" مخامخ سټېشن کې ستا لاره ګوري. لاهور ته چي ورسېږې نو هغه به زما په نوم ستا د لاس خط راوړي. که هغه خط را نه وړو نو زه به ځان مړ کم!" یو دم هغه چپ شوه...... بیا ئې یوه اسوېلی وایسته او اووئیل ئې: " اوس ته ځه!"

اچانک زما د پښو نه زمکه وتښتېده. زما پښو نه دم لاړو او زه په زمکه کښېنستم او دشمشاد پښو پورې و نښتم او په ژړا شوم. " زه څنګه لاړ شم؟ تا پرېږدم نو څنګه لاړ شم شادان! نه زه نه ځم".

هغې ووئیل؛ "پاڅه یاد کړه، ستا ښځه ده او بچي دي، مور او پلار دي، خوندې او رونړه دي.......... د هغوئ ټولو حفاظت ستا ذمه داري ده!"

" جهنم کې دې ځي ټول خلق!" زه په ژړا شوم، زه به هم دلته اوسم. زه به مسلمان شم او تا سره به واده وکړم!"

" بیا به زه ستا عزت نه کوم!" شمشاد رو شان وئیل. بیا هغه راکښته شوله او زه ئې ډېرپه مینه د زمکي نه پاسولم او د یو ماشوم په شان ئې د سینې سره جوخت کړم او په خپلو پاسته لاسونوئې زما اوښکې پاکې کړې او هغې له اوښکو نه ډکو سترګو کې ماته ووئیل: " راشه! نن اخري ځل په خپلو لاسونو زه ستا اوښکې پاکې کړم، ولي چي دې نه پس به هیڅ کله زما لاسونه ستا په اوښکو لامده نه شي. ټول ژوند به ته په ما پسي ژاړې اوټول ژوند به زه په تا پسي ژاړم او زمونږ بهېدلي اوښکی به اووه سمندره جوړ کړي او مونږ به د یو بل نه لري کړي. خو د دې فاصلونه باوجوده زه په دي هم خبر یم چي د دې ښائسته اداګانوپه ژوند کې به ته ماته د ښائست او مینې او د شفقت په هر موړ باندي یادېږې. په ماښامي کې چي به کله زه خپل خاوند له تاوده ډوډۍ ورکوم نو تا به یادوم، اود شپې په تنهائي کې چي خپل ماشوم د خپلي سینی سره ولګومه او الله هو به ورته وایم نو تا به یادوم، او چي کله چي هر څه ختم شي، چي د ژوند ټول فرائض پوره شي، چي مرګ د سترګو بڼوسره ولګیږي هغه وخت به هم زه تا یادوم، او زما په آخري ساه کې، د زړه په آخري درزا کې او د شونډو په آخري رپ کې به ته لکه د دعا په شان راشې او زما په روح کې به راځی شي!"

" یاد.........یاد.......... یاد که دولت وی نو نن به په دنیا کې څوک غریب نه وای! مینې ته به څوک نه کړې دی!!'. شمشاد یو ځل ماته پخپله وئیلي وو. خو نن ما هغه خپلواوښکوپاکېدوته پرېښوده. هغې ته ور تر غاړه وتم، ښکل مي کړه او پرېمي

خوده او د ستېشن ډډي ته مي منډه کړه ځکه چي ګاډی بهرنۍ سلامی ته را نیزدې شو. د ستېشن په پووړو ختوختو کې ما شاته وکتل. د شوي په سوري کې شادان چپ چاپ ولاړه وه او لري د محلان په حوېلي کې د نغارو آوازونه راروان او او د محلان نه لري زمونږ د نلونو ځنګل سوزېدو.

# دویم باب

لاهور سټېشن ته چي طفیل وورسولم نو ماته ئې ووئیل؛ "د سوَر زویا کم اصله برهمنه که چېري شادان ماله قسم نه وی راکړی نو ما به ته په ګاډۍ کې ختم کړی وی. واخله د دي کاغذ په دي پرزې باندي د خپل خیریت خبر ولیکه. نور څه و نه لیکې ګني سر به دي د تنه جدا کړم!"

ما په ویره ویره شادان ته په پېنسل ولیکل؛

شادان ستا رور زه په خیریت سره لاهور ته راوورسولم. چي کومه پوري ژوندی یم ستا احسان به منم!

بیج نات

طفیل اخیري فقره په پینسل کټ کړه. " د دې څه حجت وو؟" بیا هغه کاغذ راونغښتواو جېب کې ئې واچوو. ماته ئې ووکتل او ډېر ده دهمکی په لهجه کې راته ووئیل؛ " څه، ووس تښته، زما د سترګو نه پناه شه. تاته چي ګورم نوزما په سترګو کې وینې خوټکیږي. سپیا برهمنا!"

زه زر د هغه نه جدا شوم او سټېشن نه بهر ټانګه کې شاه عالمي ته راغلم. د شاه عالمي په دروازه کې زه ټانګې والا کوز کړم. هغه د شاه عالمي ته د دننه تلو نه انکار وکو ځکه زه پېدل دننه را روان شوم او "سرکي بندان دې ګلي" په لاره

سترمنډی ته د خپل کور ډډي ته لاړم. دلته په لاره کې یو هلک کله زما نه مخکې کله روستو را روان وو. ما هغه ته ووئیل ؛ " زه چي دلته یک یوازې ګرځم. زه هم تیار یم. بس دومره سوچ وکه!"

دا خبره چي هغه هلک واورېده نو وتښتېدواو زه خپل کور ډډي ته ستون شوم.

کور ته چي ورسېدم نو مې وکتل چي ور جړنده وو. کور کې هیڅوک نه وو. مور نه پلار، رور نه خور، ښځه بچي ټول غائب ووا و دا هم معلومه نه وه چي هغوئ چرته تللي دي ځکه چي خواوشا ټول کورونه جړنده وو. هر طرف ته یوه خاموشي وه. چي زه اوس ځم نو کمه خوا ته به ځم؟ په هیڅ نه پوهېدم. په داسي مصیبت کې خو په سترګو کې اوښکې هم نه راځي، بس حلق وچ غوندې شي. ما ډېره په ګرانه لاړي تېرې کړې، اخوا دېخوا مي وکتل او د ګلی د یوې ماتې نالۍ نه مې یو کاڼی راواخیستو او جرنده مې پرې ماته کړه او کور ته ننه وَتم.

کور بېخي تش ؤ. ټول قیمتي سامان ورک ؤ. هغوی ټول سامان وړی ؤ. ما په باورچي خانه کې وکتل. لوښي وو خو د خوراک هیڅ نه ؤ. ما نلکه خلاصه کړه او اوبه مي وڅښلې او بړه منزل ته لاړم او یو کټ کې سملستم. ټوله شپه زه په بړني منزل کې کله وده کېدم کله پاسېدم. ټوله شپه به کله داسي خاموشي شوه لکه چي په ښار کې ټول خلق مړه شوي دي؛ کله به داسي چیغې اورېدیل کېدلې لکه چي یو چیلی په زنقدن

کې چیغې وهي. چرته به د ډزو غږ شو. هري ډډې ته به یو شور شان شو بیا به لکه د قبر خاموشي شوله.

یو شوا روز ذۀ په خپل کورکې پټ وم. خو چې ډېر زیات وږی شوم نو بهر ووتم. په لاره کې هیچا مزاحمت و نه کړو. په تلو تلو کې زه سوتر منډۍ ته لوهاري ګېټ ته، لوهاري ګېټ نه بهاټي ګېټ ته او د بهاټي ګېټ نه باچائي جماعت ته راغلم. ولي راغلم؟ دا خو ماته معلومه نه ده. هغه ځي نه هیرا منډۍ ته لاړم. د هیرا منډۍ نه مي د انور کباب چي نه کباب واخیستل او وخوړل مي. انور کباب چي زه وپېژندم. هغه ماته سترګه ووهله خو څه ئې و نه ووئیل ځکه چې دوه درې مشکوکه قسمه مسلمانانود هغه د دوکان نه کباب اخیستل. چې کله هغه خلق لاړل نو هغه ماته په ویره ووئیل؛ " پنډت جي ته دلته چرته! خدائي د پاره دې ځي نه تښته!"

" چرته لاړ شم ؟" ما ډېرپه مایوسي سره تپوس وکړو.

انور ډیر په مایوسي سره سر وخوږوو او بیا ناساپه لکه چې د هغه په مازغو کې یو څه راغله، وئیل، " او ربنتیا ستا هغه ملګري میان، حاجي، برک د حاجي کره سندري اوري ته هلته لاړ شه"

ما چې د میان واورېدل نو د انور سره مي لاس ملاؤ کړی. ماته په دې مصیبت کې میان هډو یاد نه ؤ! زما او د میان ډېره پخه ملګرتیا وه. میان، حاجي، برک او زه، مونږ به د شپې یو محفل ګرم کړی ؤ. زه شاته د چنې په پوړو وختم او د تاجي کوټې ته

ننوتم. دننه حاجي، برک او میان شراب څښل او تاجی هار سینګار کړی ؤ لکه د سپوږمۍ د څوارلسمې د سندره ئې وئیله. ماته ئې چپ وکتل نو تکه زېړه شوه. د حاجي مخ هم زېړ وتښتېدو. خو کمال دی او شاباش دی په میان چي هغه راپاسېدواو ماته را تر غاړې وتی او برک هم زما لاس ونیوی او د ځان سره ئې کښېنولم.

میان تپوس وکړو؛ " د کوم ځي نه راروان ئې؟"

ما ورته ټوله قصه وکړه.

تاجی ووئیل؛ " ته پنډت جي د دې ځي نه بوځه که چرته ځه وشول نو زه به ئې ذمه داره نه یم".

ما د تاجي د رور نه لنګ وغوښتو او یوه قراقلي مې ترې واخیستله، هغه مې وا غوستله. بیا مونږ ده تاجي نه رخصت واخیستواو په پوړو لاندي راکوز شو او د کوزېدوسره د میان په موټرکې کښېنستی. میان ډېر په تیزي سره موټر وچلَوَلواوبهارت نګر کې ئې خپل کور ته راوستم. بهارت نګر کې ریلوې سسټېشن ته نزدې د میان دوه منزله لوی کور ؤ.

چي ما ورندیارې ته سلام وکړی. نو هغه ډېره حیرانه شوه، هیڅ ئې و نه وئیل، چپ چاپ ئې ماته کتل، لکه چي یو انسان ته نه بلکې یو مړي ته ګوري. ماته څه عجیبه شان محسوسه شوه ځکه چي لسوکالو پوري زما اود میان د مېټل پینټ په کمپنی کې حصه داري وه. ګو کې زه اوس جدا شوم او ما خپله یوه پبلیشنګ کمپني خلاصه کړه خو زمونږ زړونه د یو بل

نه جدا شوي نه ؤ. او په دواړو کورونو کې لکه د خپلو عزیزانواو دخپلو خپلوانو په شان تلي راغلې کېدو. او ودونو او غمونو خوشحالیانو کې لکه د خپلو ډوډۍ ګانې ویشلې کېدې. ځکه د ورندیارې د بوټې مخ او پیکا بې مزه سلوک چې ما ولیدو نوزما زړه ډوب شوخو ما خپله مایوسي په خپل مسکان کې پټه کړه. بیا زه میان په تادۍ بره بېټک ته بوتلم. حاجي او برک هم زمونږ سره ؤ. بره چې لاړو نو میان د اطمینان ساه واخیستله. زما قراقلی زما د سر نه لري کړه او په تپائي ئې کښېښودله، سر ئې و خوړولو او وئیل ئې؛ " تا خوغضب وکړو خاص په داسي موقع لاهور ته راغلې چي کوڅه په کوڅه  په اور او فساد کې د وینو لوبې کیږي".

ما میان ته ووئیل؛ " مړه پرېږده یاره. مونږ په هندوانو او په مسلمانانو څه کوو. شراب را وغواړه".

میان د ویسکي بوتل خلاص کو. مونږ څلور واړه کښېنستو او و مي څښل. مونږ څلور واړه د ډېر کلونو نه د شراب څښلو خلق ؤ. یو ځای به مو څښل، یو ځای به مو سندرې اورېدلې یو ځی به مونږ داد ورکولوخو نن د محفل هغه رنګ نه ؤ. د هیچا په خندا کې هغه خبره نه وه. په مینځ مینځ کې به د خاموشی داسي اوږدې وقفې راغلې چې ساه به زمونږ خوپه شوه. د شاعرانو په زرګونومصرعې ماته په یاد زده وې او زما آواز هم ښه ووخو نن په هیچا هیڅ ښه نه لګېدل. محفل داسي سوړ سوړ شان ؤ. کله کله به حاجي ماته په داسي نظر وکتل چي ماته به په خپلي مرئي چاړه محسوسه کېدله. حاجي زما هم

یار ؤخو مزاج مې ورسره چرته داسي هم نه و لګېدلی. مینځ کې به د حاجي طنزیه مسکان زه پرېشانه کړم.

" هون! کېدی شي چي دا زما وهم وي. حاجي زما د کلونو زوړ ملګری دی! د ننه پوري خو ئې ماته څه ورانه خبره نه ده کړي. زه خبر یم چي په زړه کې زما او د میان د ملګرتیا نه سوزي ځکه چي په حاجي هم میان ډېر ګران ؤ اوبرک ته هم. خو میان خو په ټولې دنیا ګران ؤ. د هغه بې فکره لټ مزاج، د هغه دولت، د هغه فیاضي، د هغه بې لوثه مینې به هر څوک د میان سره په مینې مجبوره کول. خو د میان په خپلو ملګرو کې د ټولو نه زیات زه خوښ وم. د میان نورو ملګرو خو زه قبول کړم خو د حاجي متعلق زما تل هم دغه خیال ووچي هغه د زړه نه دا حقیقت هیڅ کله نه ؤ قبول کړی.

څه لسو بجو ته نیزدي حاجي اجازت ووغښتو. میان ورته ووئیل چي ایسار شه خو هغه ایسته پاسېدو. برک ناست و خو د حاجي د تلو نه نیمه ګېنټه یا پاؤ کم یوه ګنټه روستو هغه هم بخښنه وغوښته او پاسېدو.

د حاجي او د برک د تلو نه پس ما او میان، ورندیارې او د هغوئ دوو ماشومانو طارق او تسنیم ډوډی وخوړه. طارق دَ اته کالو دی او تسنیم د شپږو کالو. دواړه ماته کاکا وائي.

د ډوډئي نه پس ما د ډېر ساعته پوري تسنیم او طارق ته قیصې کولې. د یولس بجو خوا او شا دواړه ماشومان هم هغلته قیصې اورېدو اورېدو کې په صوفو وده شو. او مونږ

هغوی وده راواخیستل او د هغوئ کوټو ته مې بوتلل او وده مو کړل. هغې نه پس میان خپلی ښځي ته ووئیل " نن به زه د مینځ په کوټه کې په بره منزل کې وده کېږم".

د هغې ښځې هیڅ اعتراض و نه کړواو مونږ د بره منزل بېډروم ته راغلو. ما چې د څو ورځو نه شوګیرې کړي وې چې سملستم وده شوم. بیا ماته یاد نه دي چې څه وشو او څه نه. کله کله به راته په خوب کې داسي ښکاره شول لکه چې د میان د کور وَرڅوک په زوره زوره وهي، لکه چي د خلقو یو جنج د میان ور ته چیغې وهي، لکه چي څوک ګونګسي کوي......بیا لکه چي څوک په چیغو چیغو ژاړي. بیا ناساپه زما سترګي خلاصي شوې.

ما چي وکتل نو میان په خپل کټ کې نه وو. کوټه کې څلور واړه طرف ته خاموشي وه. هیچرته نه څه آواز نه راتلو. ما غسل خانه کې وکتل، میان هغې کې هم نه ؤ. ما رو شان وَر خلاص کړ چي شور و نه شي او پښې پښې بله پښې د کوټې نه بهر پوړو ته ورسېدم. هسي خو څلورو واړو طرف ته خاموشي وه خو د شپي په دي سناټا کې د کښته منزل نه دخبرو آواز راروان ؤ. زه په خاموشی سره کښته کوز شوم.

میان د خپلي ښځي په کوټه کې ؤ. د کوټې ور لږ شان خلاص ؤ. زه د دېوال سره ولاړ د هغوئ خبرې مې اورېدې.

د میان ښځي وئیل؛ "تاته هیڅ حق نشته چي ته هغه دلته پاته کړې!"

" ولي زه په هغه پسي تللی وم راغوښتی مې ؤ؟"

" زه نه یم خبر. ته هغه د بدمعاشانو په حواله کړه"

" د ټول ژوند په دوستي خاوري واچوم! دا انسانیت دی؟"

" بله څه لاره هم نشته...." د میان ښځي چیغه کړه؛ " بله هیڅ لاره هم نشته. که تا دا بدماشانو له ور نه کړونو زه به ستا او د هغه، د دواړو وینه به ووڅښم" د میان ښځي خپل اوږده اوږده نوکان هوا کې وځلول. هغه ماته په هغه وخت کې یوه بلا ښکاره شوه. هغې میان د ګریوان نه ونیوو؛ " ورشه شابه هغه د بدماشانو په حواله کړه".

میان د هغې د کټ نه پاسېدو او نیزدې د یو دراز نه ئې یوه تمانچه راواخیستله او د تمانچی سره وَرته راروان شو. زه زر راستون شوم او په پوړو وختم او بره منزل کې خپله کوټه کې په خپل کټ کې سملستم. زړه مي درزېدو. ماته داسي ښکاره کېدل لکه چي میان تمانچه نیولي او زما د مرګ د پاره زما سر ته ولاړ وي.

یو دم ما په پوړو د میان د پښو چاپ واورېدو. د هغه د قدم چاپ زما د وَر سره ودرېدی. زما ساه په حلق کې ونښته.

میان د ور لاسکی تاؤ کړو. د ور د خلاسېدو په ځي ئې پکې چابی تاؤ کړه او بنده ئې کړه. کوټې کې تیاره وه او ما نه غوښتل چي بجلي ولګوم. زه روښان د کټ نه پاسېدم او وَر ډډي ته لاړم او د پړدې شاته نه مي لاسکی تاؤ کړو، هغه نه تاوېدلو. میان د بهر نه ور بند کړی ؤ.

په دي کې میان بهر یو سګریټ ولګولو د هغې په رڼا کې ماته د میان مخ زېږ او خفه ښکاره شواو دهغه په لاس کې تمانچه رپېدله.

ما په زړه کې سوچ وکړو چې کمبخت زه په کوټه کې بند کړم او پخپله د بدماشانو انتظار کوي.

ټوله شپه میان د کوټې نه بهر د تمانچی سره ګرځېدو یو ساعت هم وده نه شو. ټوله شپه زه هم ویښ وم. اوس به زما سترګو له خوب څنګه راتلی. چي د سحر سپېده شوه نو میان چابی تاؤ کړه او د کوټې وَر ئې خلاص کړو. زه په خپل کټ کې غلی سملستم. میان زه وخوزولم او راویښ ئې کړم.

ما وئیل؛ " څه دي میان؟"

"پاسه، راځه چي ځو"

"چرته؟"

" ته راځه زه درته وایم".

" ودرېږه، چي مخ لاس خو وینزم"

" دې ته حاجت نشته" میان ووئیل " نا وخته به شي فورا راځه"

ما د شپي جامې وایستي او نوري مې واغوستې او د میان سره روان شوم.

د میان په لاس کې لا د اوسه پوري تمانچه وه. مونږ دواړه لاندي کوز شو نو ما ورندیارې ته سلام وکړوخوهغي زما د سلام هیڅ جواب را نه کړو. ما وکتل چي د ورندیارې دواړه سترګې پړسېدلي وې!

د کور وَر ته د میان هډسن ولاړ ؤ. دواړو ډېوو ته شیشی بندې وې. ما او میان یو ځای موټر کې کښېنستو. لاره کې هیڅ خبري ونه شوې. میان د مخ نه سخت فکرمنده ؤ. چي هغه ته مي وکتل نو هیڅ قسمه خبري کولو جرات مي نه شو کولی.

د میان هډسن سیدها رېلوی سسټېشن طرف ته روان شو.

" مونږچرته ځو؟"

" لاهور سټېشن ته"

" خو زه په لاهور سټېشن کې څه کوم؟ زه په دې مصیبت کې تا سره اوسیدوله راغلی یم"

" مصیبت دا دی چي زه تا د ځان سره نشم ساتلی!"

موټر د سټېشن په پورچ کې ودرېدو. میان زر زه دننه بوتلم. ماله ئې درې سوه روپی را کړې او و ئې وئیل ؛ " ته د فرسټ کلاس په مسافر خانه کې کښېنه او ماته ووایه چي ته چرته تلل غواړې زه تاله ټکټ راوړم.

زه هیچرته نه ځم" ما چیغه کړه، " زه به لاهور کې یم. لاهور...... چي زما وطن دی"

" ته نه شې اوسیدی. هلته څه چي کوم ځي ته ستا مور او پلار، رورخور، ښځه بچي تلي دي".

زما هرڅه په لاهور کې دي" ما په ډک زړه سره ووئیل

" میان ته خبرئې چي زه د لاهور نه بغیر ژوندی نه شم پاتې کېدی. زه د لاهور سره عشق کوم!"

" په عشق کې خو جدائي هم وي" د میان په مخ باندي یو خشک شان مسکان راغی چي زه په قهر شوم.

" زه خبر نه وم چي ته به دومره کمینه او رزیل وخېژې" ما میان ته ډېرپه غضبناکه لهجه کې ووئیل؛ " بیګا ما واورېدل چي ورندیارې وویئل چي بیج نات د بد معاشانو په حواله که. زه نه وم خبر چي تاسو دومره متعصب........"

میان ډېر په مایوسی سره سر وخوزولواو وئیل ئې چي " که بېګا مې د بدماشانو په حواله کړی وې نو نن به د یو احمق نه خلاص وای!"

" دا ته څه وائي؟"

" ته نه ئې خبر. بیګا حاجي دلته نه د تلو نه پس بدماشان زما کور ته راوولېږل. هغوی په یو مخه زمونږ ور و وهلو. هغوی په دې ډېرکلک وو چي زه تا د هغوئ په حواله کړم".

" د هغوي سره تمانچې هم وې، زه یوازي وم هغوی شل کسان وو".

" نو بیا؟"

" بیا ما یو چل وکړواو هغوی ته مې ووئیل چي زه به سحر پنډت ستا په حواله کړم...... ژوندی یا مړ!"

" هغوئ ومنل؟"

" او په تلو کې زما دواړه بچي د ځان سره بوتلل"

" طارق او تسنیم؟" ما چیغي کړي.

" او! بطورِ یرغمال هغوی د ځان سره بوتلل. کېدی شي دا سوچ ئې کوی چي چرته زه تا سحر د هغوی په حواله نه کم نو.........

" نه، نه" ما چیغي کړې. او ما د میان پښې ونیولې، " ما بوځه" ما په چیغو ووئیل، " ما د هغوي بدماشانو په حواله کړه!"

د میان شونډې رپېدلې. داسي ښکاره کېدل لکه چي اوس به په ژړا شي، لږ ساعت چپ ؤ، بیا یو دم ئې زما نه خپلي پښې خلاصې کړې او په منډه د سټېشن نه بهرهډسن ئې په تېزی سره وچلوو او د نظر نه پناه شو.

ما د لري پورې هغه پسې منډه کړه خو چي موټر د نظر نه پناه شونو زه راستون شوم اوسټېشن ته راغلم. لږ ساعت پوري خو زه لکه دکاڼي د بت په شان په یو ځي ولاړ پاتې شوم. اوس چي ځم نو چرته به ځم! او چي ځان د چا په حواله کوم نو آخر د چا په حواله! اخر په دې سوچ سوچ کې مې لکه د یو بزدل په شان زړه له تسلي ورکړه چي هغه بدماشان به د میان

د ماشومانو سره داسي سلوک و نه کړي. دا ظلم به نه کوي چي د یو هندو په بدل کې به دوه معصومه مسلمان ماشومان به مړه کړي! حالانکه د دې وحشت په دور کې هر څه ممکن دی، خو........

زه په دغه سوچ کې د فرسټ کلاس کېنټین ته ورستنېدم چي یو سړي ماته آواز کړل او په جوش سره ماته راترغاړه وتو؛ " وئیل ئې پنډت جي! ته چرته؟"

چي ما وکتل نو هغه شاهد ؤ. شاهد لاهور سټېشن کې ټي ټي ؤ او زما زوړ یار ؤ. د شاهد سترګي د پېژندګلو د خوشحالی نه پړکېدی. خو ما په دي حال کې چي خپل نوم واورېدو نو زه حیران شوم.

په داسي موقع یو چاته د هندو په نوم وواز کول لکه چي مرګ له دعوت ورکول ؤ. ما په خوله ګوته کښېدله او اخوا دېخوا مې وکتل؛ " شششش.......د خدای شکر دی چا وا نه ورېدل!"

شاهد شرمنده شو: " سوري، زما خیال نه ؤ یاره"

شاهد ډېره ډېره معافي وغوښته. زه ئې خپل کېبن ته بوتلم، چې راباندې وځښلو بیا ئې زما تپوس وکړو؛ " اوس به ته چرته ځې؟"

ما شاهد ته وئیل؛ "زه خپل کور ته راغلی وم خو دلته خبر شوم چي دلته نه هم ټول تښتېدلي دي. لږ وخت پورې د یو ملګري

سره وم او هغه له د مصيبت باعث شوم. اوس سوچ كوم چي كلي ته لاړ شم كېدى شي چي زما ښځه اوبچي هلته وي.

" ستاسو كلى چرته دى"؟

شاهد زما نه تپوس وكړو.

" كوټلي سودكان!"

" كوټلي سودكان په تحصيل شكرګړ كې دى او تحصيل شكر ګړ په ضلع ګورداسپور كې دى" شاهد فورا ووئيل "نو ته به د نارووال په لاره ځې، ټيک ده. زه تاله ټكټ راوړم لږ ساعت كې به ګاډى روانيږي". هغه ګهړى ته وكتل او ټكټ له لاړى.

ګاډى نارووال ته روان شونو زما په ذهن كې د پنجابي دوه ټكي داسي وځلېدل لكه چي په توره شپه كې د چا په ستركو كې دوه اوښكي.

ګاډى راغله ګاډى راغله

د نارووال

د بوډا په ګيره كې

اور بليږي

او يو دم زما په ستركو كې اوښكي راغلې، او ماته داسي محسوسه شوه لكه چي پنجاب يو بوډا دى، يو سپين ږيرى زميدار دى چي د چا په ږيره كې تفرقه اچولو والا اور بل كړى دى. پنجاب سوَزي او د هغه عزت او حرمت چليږي. او هغه

سپین ږیری بوډا بې بسه او مجبوره په خپل چوڼ وجود کې پټو سترګو نه اوښکې پاکوي او سر خوږوي او په ژړا ژړا وائي.........

ګاډی راغله ګاډی راغله

د ناروول

د بوډا په ږیره کې اور بلیږي!!

# دريم باب

نارووال په لاره زه په سټېشن دربار صاحب کرتار پور کې کوز شوم. سټېشن دربار کرتار پور نه کوټلي سودکان د یو نیم میل په فاصله دی. دې ځي نه زه په خپلو پښو خپل کلي ته راوان شوم. د ګنو د فصل زمانه وه. څلورو واړو ډډو ته شنه شنه پټې ښکاره کېدل. د شوو د بڼ لاندي ځاروو سرونه کښته کړي ؤ او څرېدل. لري په خړ آسمان کې نوّر ډوبېدواو لري نه دجاټ د سندري غږ په فضا کې راتلو. که څه بله موقع وي نو دا هر څه به په ما ډېر ښه لګېدی. خو زما جامې سخا، خیرنې او شلېدلي وې. زما ړیره غټه شوي وه او زما په ذهن کې یو اور شان بلېدو ځکه راباندي هیڅ هم ښه نه لګېدل. دا شنه پټی هر ځي کې ماته د حمله آورو سانګر ښکاره کېدل. د مالونو ټیټ سرونه ماته حیران او خفه ښکاره کېدل. د جاټ سندري ماته د خفګان او د درد نه ډکې ښکارېدې. او چي زما خوا نه د سپینو مرغابیانو سیل تیر شو نو یو دم زما سترګو کې اوښکی راغلي. تاسو چرته ځی د سپینو وزرو مرغابیانو! ....... ما هم د ځان سره بوځی....... چرته د نا آشنا ډنډ په غاړه، د انسان د دنیا نه ډېر لري، چي چرته پسته پسته سیلۍ چلیږي او د ډنډ چپي ډېر په ناز د نیلوفر پاڼي ښکلوي او لکه د سپینې واوري په شان نازک، ښائسته او صفا مرغابیان خپلي دنګې دنګې مغروره غړی اوچتي نیولي د خپلو محبوباو سره د ډنډ په سر، د ګلونو په مینځ کې لامبو وهي. ما هلته بوځه چي

کوم ځي کې د شلتالانو ټيټ ښاښونه د اوبو په سر خپل ګلونه شيندي او د پنځو او د اووو رنګونو پټۍ په فضا کې د بوډۍ د ټال رنګونه خوَروي. ما هلته بوځۍ زما ملګرو ! زه به ستا د بچو سره لوبې کوم. د سيند په اوږدو اوږدو وښو کې به سملم او د دنګو دنګو نلونوسپينو زونډو ته به ګورم چي په فضا کې د امن د جنډۍ په شان ځليږي، او هغه خوبونه به يادوم چي د دې نلونو په سوري کې به په يو وخت کې ما او شادان کتل! ما دلته مه پرېږدۍ زما ملګرو!...... نن د انسان په دې دنيا کې ډېره تياره ده. ډېر زيات ظلم دی. بېخي ډېره تنګ نظري ده...... لږه تياره خو به زه هم ګواره کم او لږ شان تنګ نظري خو به زما په روح کې هم وي. او لږ شان ظلم خو به ما هم د چا په ذات کړی وي. خو دومره لويه تياره، دومره لوی ظلم، دومره ژوَره تنګ نظري زما نه نۀ برداشته کيږي چي يو انسان د بل انسان ژوند په اور کړي. ما په خپلو وزَرو کښېنوي او بو مې ځي مرغابيانو. زه د ډېري ورځو نه نۀ يم وده شوی او خوب زما په هر اندام کې ګرځي خو هيچرته د ناستي ځای نه مومي. زه به ستا په پستو او ريښمينو وزَرو کې وده شم او د خوب په خړ غبار کې به ورک د خوبونو جزيرو طرف ته به ووځم. خو د مرغابيانو سَيل د هوائي قېنچي په شان زنګېدل، زما هيله (اميد) ئې پريکوله، په فضا کې ورک شو او زه لاندي په زمکه ولاړ پاتې شوم!

ما ولی دا سوچ کړی ۀ چي دا مرغابيان به ما په خپلو وزَرو کښېنوي او ما به بوځي؟ دا څنګه ممکنه ده. خو انسان کله کله داسي نا ممکن الحصول خبري هم سوچ کوي او د هغي

په نه پوره کېدو بیا ژاړي هم. ما دوه اوښکی وسنډلي او خپل کلي کوټلي سودکان ډړي ته روان شوم.

کوټلي سودکان کې زما د نیکه کور ؤ. دلته ماته خپل رور، خور، مور، پلار، ښځه، بچي ټول ملاؤ شو او د عارضي خوشحالی نه په ژړا شو ځکه چي هغوئ دا سوچ کړی ؤ چي ګني بیج نات په لاهور کې وژلی شوی دی. زما نیکه زه خپلي سیني ته راجوښت کړم. هغه ډیر ښائسته، پر وقاره او د زړې زمانی زمیندار ؤ. په ونه شپږ فټه نه په برَه ؤ. هغه د خپلو سپینو ویښتو، مضبوطه زنه او سپینو بریتونو کې ډیر باروعبه ښکاره کېدو. په ټول کلي باندي  د هغه یوه دبدبه وۀ. او ولي چي هغه د کلي د ټولو نه غټ زمیندار ؤ نو ځکه به ټولو خلقو د هغه خبَره منله. تحصیلداران او تانه داران او نور حاکمان به تلل راتلل خو په کلي به زمونږ د نیکه حکومت همیشه قائم ؤ.

ما نیکه ته او د کور نورو خلقو ته د لاهور ټول حال ووئیلی او هغوی مې پویه کړل چي اوس دلته ګزران ګران دی اوس دې ځي نه تلل پکار دی، او اوس خو لا خیریت دی. چي اوس دې ځي نه لاړ شو نو ښه ده ګني نو روسته.........

خو نیکه بابا مې ډېر ضدي ؤ، په قهر ئي ووئیل " ته څه خبرې کوې؟ بیج نات؟ که په دې زمکه پاکستان جوړ هم شي نو څه وشو؟ مونږ به هم په دي زمکه اوساو د دې سندري به وایو لکه چي څنګه د اووو پېړیو رااېسته کوو.

" مصیبت دا دی" ، ما ووئیل " ته خو د اووه ؤ پیړیو نه آرام کوې او سندري وائې خو ستا مسلمان ناظران فریادونه کوي او اوس د بدل اخیستو وخت راغلی!"

" زما مسلمان ناظران خو زما بچي دي!" نیکه بابا ډېر په فخر سره ووئیل.

" تش د لوو پوري!" ما جواب ورکړو او نیکه بابا چوکه رواخیسته او په ما پسي د وهلو د پاره را منډه کړه. هغه خو زما پتا جي او زما مشر رور خلاصی راوستو ګني د زوړ دستور په مطابق به ما نن هم وهل خوَړل!

بله ورځ ماځپښین نیکه مې په غولي کې په تخت ناست چیلم ئې څښکولو. کریم خان د هغه پښې چاپي کوله او الله داد د هغه ملا او فضلو ورله سر مالش کوی. زه هلته نه تېریدلم نو راو ئې غوښتم او د فضلو نه ئې تپوس وکړو" ولي فضلو! دلته به هم فساد کیږي؟"

فضلو د هغه چاپي کوله او و ئې وئیل: " مالکه ! د اووو پېړیو نه خو دلته هیڅ فساد نه دی شوی او نه به وشي....."

" ته الله داد؟" الله داد د بابا ملا په رو رو سکنډله او و ئې وئیل، " مونږ خو ستا بچي یو مالکه!"

" کریم خان؟" کریم خان د هغه پښې چاپي کولې، مسکی شو او وئیل ئې " بې غمه اوسه! چي څوک فساد کوي مونږ به ئې سټ مات کړو!"

بابا ماته ډېر په فخر وکتل. اوس ما به څه وئيلي وے بس هلته نه لري شوم.

يو اته لس ورځې ډېر په آرام تېرى شوې. زما نه د خپل زړۀ وسوسې او وهمونه تقريبا هېر شو. مونږه به سحر تازه شمله څښله، د غرمي به مونږ ګني چوپل، ماخپښين چي به کله د کارو نه لږ اوزګار شولو نو د شهتوتو د تالاب په غاړه د ونو د ګڼ سوري لاندي به ما د خپل نيکه د ناظرو سره تاش کولو. زما د ټولو نه کشر ماشوم منا به زما په غيږ کې ۀ او غوغان به ئې کول، زما غېږ کې به ئي لوبې کولې يا د تاش پتې به ئې خوله کې وهلې او په لاړو به ئې زما قميص لوند کړو. خو هغه ډېر غوَنډ منډ شان ماشوم ۀ او ماته به ډېر ښکلى ښکاره کېدو. چي کله به هغه زما په غيږ کې ناست ۀ او ما به د بابا د ناظرانو سره تاش کوو نو ماته به ژوند په شين آسمان کې لکه دسپينو او سپکو وريځوپه شان نرم او ډېر په قلاره ښکاره کيدو.

د۲۱ اګست په ماښام، چي په نغرو د جوارو ډوډۍ پخېدې او په غولي کې څلورو واړو طرف ته د لاوڼ خوږ بوئي خور ۀ او سخي موګو ته تړلي شوي مياندو ته نعرې وهلې او په ګګرو کې ځواني او لکه د سپوږمۍ په شان انګياندو خپلو خاوندانو له ډوډۍ وړله، هغه وخت د نيکه د ناظرانو يو وفد د تخته پوش سره ودرېدو، هغوئ لکه د فرياديانو خپلې څادَرې التِه په خپلو وږو اچولي وې او د هغوى سرونه د ويرې او شرم نه کښته ۀ.

نیکه بابا ډوډی خوړه چې هغه خلق راغل. بابا ډوډی ډډي ته کړه او و ئې وئیل: " څه دي؟" د ناظرو په وفد کې کریم خان ؤ، اللّٰه داد هم ؤ، فضلو هم ؤ، رحمان هم ؤ او نور خلق هم ؤ چې ما ډېر نه پېژندل.

کریم خان د څادر پلو په لاس کې ونیوی لږ را ټیټ شو او وئیل ئې: " مالکه برّه نه حکم راغلی دی چې لوټ ئې کړی".

" برّه خو خدای دی " بابا ډېر په طنز سره وخندل.

" ولي خدای تاسو ته زمونږ د لوټ د پاره وئیلي دي!"

هغه خلق د یو دوه لمحو د پاره په سوچ کې شو، بیا فضلو په رو شان وئیل!" مالکه ته دې څې نه څه!"

" ولي لاړ شم؟" نیکه مې په قهر چغې کړې!"

کریم خان یو سړه اسویلی وایسته او وئیل ئې چې: " مالکه د برّه نه حکم راغلی دی چې لوټ ئي کړی. مونږ د برّه والا خلقو حکم لاندي نه شو غورزولی".

کریم خان سر کښته کړو او د سترګو نه ئې اوښکي په خیرن څادر توئې شوې.

بابا په قهر وئیل؛ " تاسو ډېر بزدله او احمقه یئي چې د بدماشانو نه وېرېږی. زما سره شپږ بور تمانچه ده. یو تهري ناټ تهري دی. زه ګورم چې کوم د مور زوی د کوټلي سودکان زمیندار د لوټ کولو کوشش کوي. څۍ تاسو لاړ شۍ".

د هغوئ د تلو نه پس ما او پتا جي هم نيکه ډېر پويه کو خو هغه و نه منل. د هغه په زړه کې هيڅ کله هم دا خبره نه پرېوته چي هغه به دې ځای نه ځي.

په کور کې دوه پارټيانې شوې. چا وې چي تلل پکار دي، څه خلق د نيکه حمايتيان ؤ، هغوی وئيل دا ټوله خون خرابه (وينه توئول)، فساد د يو څو ورځو وبال دی، سوړ به شي. بيا به مونږ د تلونکو خلقو نه زيات په آرام يو او کوټلي سودکان کې خو هيڅ کله هم څه نه شي کېدی. زما ترونه آيا رام او رام لبهايا خو د نيکه په حق کې ؤ، او کم سړي چي کومي ډډې ته ؤ، هم هغې ډډې ته د هغه ښځه او بچي ؤ. نيمه شپه هم په دغې بحث کې تېره شوه. هغې نه پس ټول سملستل او وده شول.

خو سحر حمله وشوه. مونږ د اوسه پوري لا سم ويښ شوي هم نه ؤ، ماشومان لا وده ؤ. زه پخپله ټوله شپه ويښ وم او نا واخته وده شوی وم ځکه چي کله ګلۍ کې د نغاری غږ شو، د فساديانو آوازونه شو نو زه داسي اوتر اوتر غوندي را ويښ شوم. زه په يو بنين او لنګ کې وده شوی وم هم په هغې جامو کې پاسېدم او د ويرې نه مې نه د کوټې د کړکۍ نه ودانګل او په ګنو کې دننه مي د لري پوري منډې وهلې، او د ګنو تېرۀ پاڼو زما بنين او لنګ ځي په ځي وشلوَلو. او پښو او لاسونو نه مي څو ځي کې وينه راروانه شوه او په څو ځي کې د ګرېدلو سره چاپونه جوړ شول. اخيره کې چي د نغارو، د نعرو اود چيغو آوازونه لري شو او ډوب شان شو نو اوږدې اوږدی

ساګانې مې واخیستي او د وحشت سره مي په پټو پټو سترګو اخوادېخوا کتل.........

دلته هیڅ څوک نه ؤ. څلورو واړو ډډوته تش ګني ؤ او لري هغه شور هم ډوبي دو. څه نیمه یا پاو کم یوه ګینټه پس هري ډډي ته خاموشي شوۀ . د نغارو اوازونه، د منډو چاپ، د تکبیر د نعرو نه ډکي، یرودونکي چغي ټولي چپ شوي. زما نه څلورو واړو ډډو ته د خاموشئي یۀ څادر شان خور شو.

زه په پټي کې پټ کښېنستم. یوه ورځ او یوه شپه، او دویمه ورځ او دویمه شپه او د دریمې ورځې د ماخپښینه پوري زه هم هغلته پټي کې پټ وم. د ویري نه مي هیڅ حرکت نه کولی چې چرته هغه خلق زما غږ نه خبرداره نه شي او مړ مي نه کړي. په دویمه شپه باران شو او زما ټول بدن د پټي په خټو کې سخا شو خو یوه ښه خبره هم وشوه. زه ډېر تږی وم ځکه د باران په اوبو لمدې پاڼې مې سټلې او د ګنو په ډنټهلو کې ولاړې اوبه مې څښلې. په دې مې تنده خو ماته شوه خو وږه مي را ویښه شوه. د دریمي ورځې په ماسپښین خو دومره سخت وږی شوم چي هغې زما ویره ختمه کړه او د ولږی د لاسه مجبوره او بې بسه زه د ګنو د پټو نه راووتم او په کچا لاره رو رو د نیکه کور ته ورسېدم.

زما نیکه په درشل کې مړ پروت ؤ. د هغه بدن پړسېدلی ؤ. او د هغه یو لاس د درشل نه بهر او بل په درشل کې دننه. او درشل نه بهر زمونږ د کور سپۍ رومي د زوړندو غوږونو سره د نیکه د لاش سره نیزدي بغیر د څه حرکته ناسته وه. ما د بابا

نه ټوپ کړل او کور ته ننه ووتم. په غولي کې مې د ټولو نه مخکې نلکه خلاصه کړه او اوبه مې وڅښلې، او چې په اوبو موړ شوم نو باورچي خانې ته لاړم او خوراک له مې څه کتل. اتفاق ؤ چې ماته په شکور کې په خیرني ټوټه کې نغښتي یو څو د ډوډۍ ټکړې ملاؤ شوې او لوښي کې کوچ هم او ګوټ کې په چاټۍ کې پراته ؤ، او لږه ګوړه هم پیدا شوه.

ما ډوډۍ خوړه او د باورچي خانې نه را ووتم او په غولي کې مې اخوا دېخوا کتل. د نوَر خاته ډېري ته دېوال ته ولاړ تخته پوش باندي د نیکه بابا د وینو څاڅکي ؤ. د چیلم شپیلۍ بېله پرته وه او سر ئي (سلفي) په زمکه بېله پرته وه. نیزدې کټ او کټکی پړ مخې پراته ؤ. ما د هغې ځي نه نظر لري کړو او جنوبي دېوال ته مې وکتل، د کدو په ځیلي کې شنه شنه کدوان زنګېدل. په ګوټ کې تنور هم هغه شان ولاړ ؤ. او د هغې سره لاندي چمټه پرته وه. زما نظر د نوَر خاته ډېري دېوال ته تاؤ شو. دیوال ته یؤ کټ ولاړ ؤ او هغي سره دَ پرتوغانښ دَ بټلو ګرګا ولاړه وه. زما په سترګو کې د کشر رور ناوي وګرځېده، حیا ناکه غنم رنګه مخ. په تندي ټیکه ، پوزه کې د سرو میخکې، نري نري شونډې، د حیا او شرم نه ډک مسکان او د نکریزو لاسونه چې ریښمین تارونه ئي آزادول، په رنګینو تارونو کې به ئي د روز مره د ژوند خوبونه بڼل. دې وخت کې هغه د نکریزو لاسونه چرته دي؟

دا دَ کور د دېوال سره لګېدلي د ریښمو تصویر به شاید چې هیڅ کله هم مکمله نه شي! او یکایک زما څلورو واړو طرف ته

زما کور ډک شو د ژړو آوازونو نه، د ژړو خوشبويانو نه، د آشنا مخونو نه. د يوې لمحې د پاره بېخي ماته داسي محسوسه شوه لکه چي هغه ده زما مور وړه اغيګي، هغه ده زما ښځه د وړو د پېړو نه ډوډۍ پخه وي، زما زوئ د وړو نه غوئي او چيلی جوړوي. بابا په تخته پوش ناست چيلم څښل. او د مغربي دېوال سَره په ګرګا د رور ناوي پرتو غاښ بنې او د ځان سره لګيا ده:

ګاډی راغلې ګاډی راغلې دسپاهي

دې له ټکټ مه ورکوه بابو

زمونږه شپه د جدائي ده

او په دويمه لمحه کې هلته هيڅ نه ؤ. تخته پوش د وينو د سرو داغونو نه ډک ؤ. سر ئي لاندي پړ مخې پرَته وه. کټونه هم پړ مخې پراته ؤ. او دېوال سره پړ مخي کټ کې د ريښمو ګرګا نا مکمله پرته وۀ.........

ډوډۍ خَوړو خوَړو کې ما دا سوچ کوی او کتل مې. په دې کې ما وکتل چي رومي زما پښو ته  راغله او ماته ئې ډېر د بې بسي او بې کسي په نظر وکتل. رومي بلاربه وه او د هغې خېټه پړسېدلي او لړه زوَړنده وه. يو سو ورځو کې، په پنځلس شل ورځو کې يا کېدی شي مياشت پس به دا بچي راوړي. بابا دي سرَه ځومره مينه کوله. دا غريبه به دوه درې ورځو نه ؤږي وي زما په شان. ما رومي ته د ډوډۍ يوه ټکړا وغورزوله، رومي و نه خوړه. ما يوه بله ټکړا پريکړه او ورته مي وغورزوله. رومي

هغه هم بوئي کړه او پرېښوده. چي نه خوري نو مه خوره، وري مړه شه. ما هغه دواړه ټکړی هم رواخيستي، په لستوڼي مي و سنډلې او نورې ډوډۍ سره مي په خيرنو ټوټو کې ونغښتلي او ځان سره مي کېښودې. معلومه نه ده چي سو ورځی به ولړه تيرَول وي.

ډوډئي نه پس ما بيا اوبه وڅښلې. بيا د غولي نه د کور درشل ته راغلم. د بابا د لاش نه مي ټوپ کړل او په کچا لاره د پټو په غاړه غاړه روان شوم. ناساپه ماته يو آواز محسوس شو، زه وَېرېدم شاته مي وکتل. رومي هم زما شاته شاته راروانه وه. ته چرته ځې سپۍ؟ ته حامله ئې، ته حامله ئې،ته سپۍ ئې، تاته هيڅ ويره نشته. ته ولي انسان ئې څه چي تاته به د خپل ځان ويره وي؟  دا خو ټولې د تهذيب خبرې دي. د اوچت مذهب او د اخلاق جګړې دي. دا توره خو د ډېر اوچتو اصولو په حمايت کې را وَتي. شکر کوه چي ستا مرئي په دې نه حلاليګي. شکر کوه چې ته غير مذهبه ئې، جاهله او بې اخلاقه ئې. شکر کوه چي ته په دې خبر نه ئې چې مذهب څه وي. تا چرته د سحرو د ماښام خړه  نه ده ليدلي. چرته پنځه وخته مونځ دي نه دی کړی. ته چرته ګرجې، مندر، جماعت ته نه ئې تلي. ته چرته د آزادی په مفهوم نه ئې پويه شوي. چرته د يو سياسي ليډر تقرير دي نه دی اورېدلی. شکر کوه چي ته سپۍ ئي، انسان نه ئې.

تښته ما پسې مه راځه. ولي چي زه يو انسان يم او د ځان د بچ کولو د پاره د بل انسان نه تښتم . تښته او خپل کلي ته واپس لاړه شه. چي کوم ځي کې زه اوسېدم او چي کوم ځي

کې ته اوسېدلې. چي چرته زه پيدا شوی وم او چي چرته ته پيدا شوي وې. چي د کوم ځي نه ئې زه وَاِيستم خو تاله به هيڅوک لاس نه دروړي ځکه چي ته يوه سپی ئې، انسان نه ئې.

لاړه شه هم هغه کور ته! هغه کور خو به له تله هم دغه شان ويران او برباد نه وي. څوک خو به راشي هغه کور ته، او څوک خو به د هغه چيلم شپېلۍ راواخلي اوپه خپل لمن به ئې پاکه کړي او خپلې سينې سره به ئې ولګوي او په کټوی کې به تازه اوبه واچوي او سرئي ( سلفي) کې به تمباکو واچوي او انګار به پرې کښېږدي. او هم په هغه تخته پوش به کښېني او و به ئې څښي. او په هغه ګرګا کې به په ريښمينو تارونو کې د يوې حيا ناکې او معصومه اِنګور د نکريزو ګوَتي وي او د خپلو هيلو به هم هغه تصوير جوړوي چې کوم زمونږ د کشر رور ناوی نيم ګړی پريښودی ؤ. هغه کور کې به يو ځل بيا د خوشحالۍ شور ګډ وي. تنور به لمبه کيږي. د شکور نه د تودو تودو ډوډو خوږ بوی به راځي او د کدو د ځيلو نه پټ غولی به د پيغلو د سندرو نه ډک شي او څوک سعيده او څوک جميله به ککلي ( يوه لوبه چي په پنجاب کې جينکې کوي) اچوي او په برَق برَق به وخاندي:

جيتَکې په دائره کې ګير چاپيره ولاړې دې     ککلي کلير دي

شمله زما د رور     پګ ميری وير دی

لوپټه مي د وراندياړې     دوپټه ميرے بهائی دا

په زوم دي شي لعنت پهټی منه جوائي دا

او! یو نوی ژوند به راشي او زوړ ظلم به اووینځي؛ ځکه ته واپس لاړه شه....... رومي!

خو رومي واپس لا نه ړه. هغه زما شاته راروانه وه؛ ټیټ سر، زړند غوړونه.

بې وقوفه، احمقه سپی:

# ځلورم باب

دلته دا ضروري ده چي زه تا د خپلې مسئلې په حدودابعه پويه کم. ستېشن دربار صاحب کرتار پور نه يو نيم ميل په دېخوا زمونږ کلى و، کوټلي سودکان. دوه نيم ميله په اخوا د کنجرووړ کلى و چي په مينځ کې يو ريلوې لين نارووال ته تلو. زه چونکه د نارووال نه راغلى وم نو ځکه ما هلته واپس تلل نه غوښتل. د بچ کېدو يوه لاره وه چي زه دې ګوردواره کرتارصاحب ته ورسم و هغې ځي نه لري لري د دريائې راوي غاړې غاړې ته ورسم په هغه مقام چې چرته بلې غاړې ته د ډېره بابا نانک کلى وو زه، په مينځ کې د راوي پل ؤ چي د پاکستان سرحدئې دهندوستان د سرحد نه جدا کولو.

چي څنګه ما سوچ کولو عين هم په هغه وخت د کنجرووړ و د کلو نه راتلونکو قافلو هم هغه شان سوچ کولو. هغوى هم د ستېشن دربار صاحب کرتار پورنه واوړېدل او په يو سړک روان ؤچي د ډېره بابا نانک پل ته ځي.

دا فاصله څه د دېرشو ځلويښتو زره خلګو باندي مشتمله وه.

زه يوازي وم او هسي هم زه يو وېرودونکى و بزدله انسان يم. ټول عمر مي چرته وهل ټکَوَل نه دي کړي. چاسره مي چرته ډېره جنګ جګړا نه ده راغلي. چرته څه ډېر غم راباندي نه دى راغلى. ژوند مې ډېر په عيش و آرام کې تير شوى ؤ نو ځکه د

چا نه ډېر د نفرت کولوموقع راته نه ده ملو شوي. جدید تعلیم دومره وکړه چي د زړۀ نه ئې راله د هلو ځلو،ذات پات، مذهب، رنګ و نسل اختلاف ئې ختم کړی ۀ. دا خبري په ما څه....... بس څه ښه نه لګي. دې نه به لکه د ژَړو ماستو تریو بوی راتلو زړۀ مي غوښتل چي کوم ځي کې هم دا څیزونه ملاو شي نو زر ئې رواخلم او په سخا نالۍ کې ئي و بهوم. زما په ملګرو کې هندوان، مسلمان، عیسائي، یهودي، انګریز هر څنګه خلګ ۀ لکه چي څنګه یو موړ سوکاله بزنس مین وي. خو زما سلوک د هغوی سره ښه ۀ، د هغوی سلوک زما نه هم ښه ۀځکه زه د هغوی په زړونو کې ډېر ژور نه وم کوز شوی؛ او که داسي ویایم چي دننه پوري زه چرته پخپله خپل زړه ته هم ډېر ژور نه وم پرېوتی نو دا به هم غلطه نه وي! کېدی شي چي حالات، سوکالۍ، زما بې پروا طبعیت به چرته د دې د پاره وخت نه وي راکړی، او اوزګار خو زه اوس هم نه یم. دې وخت زه یوازي وم او په ځنګل کې د یوازي ځناور په شان د خپل ځان د بچ کېدو د پاره ترکیبونه مي سوچ کول او ځان راته ډېر نا دیده ښکاره کېدو. د ځنګل نه خو زمونږ ناطه ځو زره کاله مخکې پاته شوي وه او د تهذیب یوه نرۍ پرده ما هیڅ کله هم نه وه لټولي. نن هغه پرده په اتفاق سره، په حادثات سره، د تاریخ په ګوزار و شلېده او دننه نه ځنګل راوتو او ډېر پریشانه شوم چې مې و کتل.

زه انسان آبادو کې لوی شوی، انساني تهذیب مستقل و دائم ګڼلو والا انسان د دې پوهې نه قاصره وم چي په دې ځنګل

کې به څنګه اوسم، کوم ځي کې چي نه یم خبر چي څومره ورځې، څو میاشتی به اوسېدل وي.

د ګنو پټې به ماته د دښمن سَنګر ښکاره کېدو. په هر خټ او په هرې کندي کې به ماته مرګ ښکاره کېدو. په ریلوی سټېشن کې به لیوۀ په تاک کې ۀ. دا ګاډی لین چې به د دې ځي نه نارووال ته ځي و د نارووال نه لاهور ته ځي. چي زما په ذهن کې همېشه نه د شلمي صدی د تهذیب و حفاظت علامت ۀ، نن د مرګ بوج وچَتوي. او چي زه پیدل پیدل روان وم نو لاره مي هېره کړه، د ګنو نه تیر شوم و د ګوردواری کرتار صاحب ته د تلو په ځي د سټېشن دربار صاحب کرتار پور طرف ته را ووتم نو ما ګنو کې پټ وکتل، د خټونو نه شاته، د بېرو د وَنو په بڼ کې او د ګنو په پټو کې، بېخي ماته مخامخ، ډېر شه مسلمانانو فسادیانو بوزئي وهلي، په لاسونو کې بلَم( یو قسمه هتهیار)، چړی، ډنډې، ټوپکې نیولي ولاړ ۀ او د ګنو بلي غاړي ته، د ریلوی لین بلي ډډي ته، په سړک دکنجروړ د ډډي نه راتلونکي د هندوانو قافله ئې کتله. هغوی زه نه لیدم ځکه چي ماته د هغوی شا وه او زه د هغوی شاته په ګنو کې پټ وم، خو ماته هغوی صفا ښکاره کېدل چي یو بل سره ملا په ملا ولاړ، لاس کې بلَم( هتهیار) نیولی د شکاریانو په شان داسي چوکس او هوشیار ولاړ ۀ چي ماته یو دم دا احساس وشو لکه چي زه انسان نه یم سویه یم، ګیدړ یم، لومړ یم! څلورو واړو ډډو ته یو تور تم ځنګل دی او په شنو پاڼو کې پټ بې رحمه سرې سرې سترګې، اوږده اوږده، تیرۀ تیرۀ د چړو په شان نوکونه زما غوَښي کې د ښَښیدو د پاره تیار وي.

په اول ځل ماته څه عجیبه غوندي احساس وشوما سوچ کولو حالانکه مرګ مخامخ ولاړ ؤ. کله کله ذهن دوو دوو درېوو درېوو متوازي سطح باندي کار کوي. زه په پټېږ کې پټ یم. ماته مخامخ د ګنو په پټېږ کې او د بیرو په بن کې او درېلوی لین نه اخوا په جاړیانو کې حمله آور شست نیولي تیار دي او پوري غاړې ته په سرک قافله تېریږي. بوډاګان، ماشومان، ښځی،ځوانان، هندوان، سیکان، کهتریان، برهمن، چمیار، بنګیان، راجپوت، تیل، زمیندار، سرمایه دار ټول تیریږي. څه وخت کې به دا خلګ د یو بل سره جنګېدل، د یو بل سره به ئې بې ایماني کوله، د یو بل استحصال به ئي کولو، د یو بل مرئي به ئې پرېکولې خو نن د ټیټ سرونو سره یو ځای تښتېدل. و ماته رایاد شو چي کله په ځنګل کې یو لوی آفت راشي........ سېلاب یا طوفان یا اور........ نو هغه وخت ټول ځناور یو ځای تښتي....... وسۍ و زمري، میلو و هاتهي، شرمخ او ځنګلي غوئي، مار او ګیدړ او سویه....... او د هغه مصیبت په ساعت کې به هیڅوک په چا حمله نه کوي، څوک د چا حق نه وهي، ټول د یو مشترکه خطرې نه د بچ کېدو د پاره د یو مشترکه مصیبت په مخکې یو ځای روان وي، روان اوسي د ځنګل د ځناورو په شان! سړک ماته په هغه وخت کې لکه د ځنګل د لاري ښکارېدو چې پرې زرګونو ځناوروجوپی وېریدلي او پرېشانه په تېز تېز ګامونو د ځان د بچ کولو د پاره منډې وهلې.....

چي درې حصې قافله تېره شوه نو په ګنو کې پټ مسلمانو فسادیانو یو مشر یوه اشاره وکړه او د هغې اشارې سره د

تکبیر په چیغو کې چړې،بلَم، ډنډې، تورو او چاکو ګانو سره په قافلی حمله و شوه.......

په قافلې کې منډی ترړی شوې. د چا چي چرته مخه شوه هلته وتښتېدو. د مدافعت و چا ته هوش ۀ. د مدادفعت ټول امیدونه د هغوی د زړۀ نه وتلي ۀ. اوس د هغوی د یو اتفاق په هیله ، په یو امید روان ۀ چي بس په یو څه چل د راوي د پوله پوري ورسو. ګني په اخلاقي طورپه هغوی کې هر کس مړ ۀ.

ځکه په سپنکړو کسان په نیمه ګېنټه کې لکه د ګازرو و د مولو په شان پرېکړي شوو وغورزولی شو او بیا حمله آورو خپل کار وکړو او بل طرف ته روان شو.

ما سوچ وکړو د قافلی سره شامیلېدل به نور هم حماقت وي. که بچ کیږم نو یوازی به بچ شم، ګني مرګ خو یقیني دی.

چي دا سوچ مي وکړو نود قافلې سره د شامیلېدلو اراده مي پرېښوده او د ماښام د خړي پورې ګنو کې پټ ناست وم. د ماښام پوري زه سخت تږی شوم، حلق مي غني غني شو. بیا مي لاړې هم نه تېرېدلې او د تالو سره به ونښتې او وچې به شوې. بیا هغه وخت هم راغلی چي په حلق کې مي لاړي پاتي نه شوي او د ویَري نه مې سټېشن دربار صاحب کرتار پور ته د تلو اراده وکړه. هلته خو به اوبه خامخا ملاو شي. چي یو ځل اوبه وڅښم نو بیا مي دې څوک ووژني!

دا سوچ چي مي وکو نو زه د ګنو نه را ووَتم  او د ګاډی د لین غاړي ته په کندو کې پټ پټ زه سټېشن دربار صاحب کرتار پور ته ورسېدم.

نن په سټېشن کې تیارهٔ وه. په دروازی د ټکټ بابو نه ؤ. د پلېټ فارم بتۍ نه وې بلې. د سټېشن ماسټر په کوټه کې سټېشن ماسټر مړ پروت ؤ. بهر په پلېټ فارم کې څلورو واړو ډډو ته د هندوانو و سیکانو لاشونه ډېر په عجیبه و بې ترتیبه حالت کې پراته ؤ. ما دي ټول منظر ته په یو تېز نظر وکتل او سیدها د هندو اوبو طرف ته لاړم او ډېرې شې اوبه مي وڅښلې ځان مي موړ کړو. خو په دې دوران کې زه بېخي لکه د غلو سټېشن ته ور داخل شوم. لږ شان کړپ کړوپ مي هم و نه کړو. چي ما اوبه وڅښلې تنده مي ماته شوه نو څلورو واړو ډډو ته مې وکتل، چرته چي یو متنفس هم نه ؤ، څلورو واړو ډډو ته تش لاشونه ؤ.

بیا ناساپه ماته د پلېټ فارم مغربي سر ته یو خړ شان متحرکه سوری ښکاره شوما چي دا وکتل نو ذر د هندو اوبو د غټ منګي شاته پټ شوم.

د هندو اوبو د منګي نه یو څو ګزه مخته د مسلمانو اوبو تور منګی پروت و. هغې نه مخته د سټېشن په روښانه برانډه کې د پیتل یو ګړیال لګېدلی ؤ. هغژ نه مخته هغه تور سوری په مَړو ټیټ شوی وو څه ئې لټول. لږ ساعت پس هغه سوری پاسېدو. اوس ما وکتل چي یو بوډا، سپین ږیری، کمزوری، نری شان سړی دی او د هغه په لاس کې د سرې او شنې بتۍ

لالټین دی او په مّړو کې ګرځي او څه ګوري. ما سوچ وکړو! " دا عاجّز بوډا! راته ښکاري چي ځوان زوی ئي وژلی شوی دی....... یا څوک بل خپل...... او دلالټین په رڼا کې په هغه پسي ګرځي او مړي لټ پلټ کوي او د هغوی مخونه د پېژندلو کوشش کوي".

چي هغه ماته را نیزدې شو نو ما وکتل چي هغه چهری نه پېژندل، د مړو جیبونه ئې لټول او هغې نه ئې نقدي، روپۍ، نوټونه او دغه شان نور قیمتي څیزونه روایستل او په یوه پوړۍ کې اچّول.

نه یم خبر چي زما په زړه کې څه راغل چي زه د اوبو د ځي نه رو شان پاسېدم او د شاته نه مې د هغه لاس ونیوو چي هغه په یو مړي کښته شوی ؤ.

ما په قهر تپوس وکړو؛ "ته څوک ئې؟" نو د بوډا لاړي ونښتې، د هغه د سترګو ګاټي بهر را ووّتل، د هغه شونډې رپېدلې، په ویره ویره ئې د خلې نه ووّتل،

" زه.......زه.....مسلمان یم!"

" که مسلمان ئي نو اوس دې وژنم!" دې سره ما د هغه په مری زور کړل.

د بوډا د خلې نه زګونه د هغه په ړیره والوّتل. پوړۍ ئي پرېښوده او دواړه لاسونه ئي یو ځای کړل؛ " نه،نه زه مسلمان

نه یم. زه، زه بلاقي شاه یم، د کنجروړ بلاقي شاه. تا به زما نوم اوریدلی وي".

زمونږ په علاقه کې به د کنجروړ بلاقي شاه نوم به چا نه وي اورېدلی. هغه زمونږ د علاقی د ټولو نه غټ سرمایه دار ؤ. یو زمیندار به هم داسي نه وي چې د هغه مقروضه دي نه وي، یو کور به زمونږ په کلي کې داسي نه وي چي د هغوی کالي دي د هغوی په کور کې ګاڼه نه وي پروت.

" بلاقي شاه! ته دلته څه کوې؟"

" زما خو ټول خلګ و وَژل شو چي څه را سرَه ؤ هغه ټول لوټ شو".

" هغه ستا کله  ؤ بلاقي شاه!"

هغه زما د خبري جواب را نه کړو وئې وئیل؛ " تش یوه لور مي پاتي شوي ده. هغه مخته په یوه قافله کې لاړۀ. اوس چي لاړ شم او و ئې لټوم نو هغه به ملاو شي".

" خو په دي وخت ته دلته څه ګوري؟"

" هی..... هی......." بوډا مسکی شو. ماته، یو هندو ته چي ئې وکتل نو په اطمنان شو. ووئیل ئې؛ " زویا! زما اوس اک یوه لور دۀ. نور زما سره هیڅ نشته. که بچ هم شوم نو پېغله لور به څنګه واده کوم؟ دا سوچ چي مي وکړو نو ما.........." هغه چپ شو او په زمکه پرَتې پوړی ته ئې اشاره وکړه.

ما چي پوړی اوچته کړه، و مي کتله نو په هغې کې د دوو او دلسو نوټونه او د پنځو نوټونه ؤ یو څو د سلو نوټونه هم ؤ. او روپۍ وې او درې څلور ګړۍ وې او سرو شپږ اووه ګوتمی وې.

بوډا ووئیل؛ " سوچ مي وکړو چې دا خلګ خو هسي هم مړه شوي دي. دا روپۍ د دوئ څه پکار راځي؟ مسلمانان به راشي او زمونږ دولت به یوسي".

" ستا دولت؟"

" هو ! نو ما دا سوچ وکړو چي زه به ئي یوسم. هی....... هی...... دا روپۍ به زما د لور په داج کې پکار راشي........"

" ښه ؟ نو تا په دې مړو کې د خپلي لور داج موندلو؟" ما ډېر په حقارت او نفرت سره تپوس وکړو ځکه چي ماته د هغه په خبَره بېخي څه یقین نه و.

" هو بابو......"ماته هغه منت وکړو او و ئې وئیل، " او تا دلته څه کتل؟" هغه زما نه تپوس کولو زه لږ ساعت پوري غلی وم. چپ چاپ مي هغه ته کتل. " ما هغه وطن لټوو چي کوم ستا لالچ، حرَص و بائیللو!" ما ډېر په خفګان ووئیل او د بلاقي شاه د سټ نه مي لاس لرې کړل ځکه چي ماته داسي محسوسه کېدل لکه چي ما د یو بنیادم په سټ نه بلکه په یو مار مي لاس ایښی ؤ. ما هغه له په زوره دیکه ورکړه او په مَړو مي وغورزولواو پخپله دستېشن نه بهر ووَتم

د ستېشن نه ډېر لري تلو نه پس ما په شا وکتل نوماته هم هغه تور سورى ښکاره شو چي ئې سړه بى نيولي وۀ و په لين کې ګرځېدو. بلاقي شاه!

# پنځم باب

د ټیشن نه زه په یوه کچا لاره روان شوم. په لاره دواړو ډډو ته ګنې ولاړ و او د شپې په تیاره کې لکه د یوې قلا دَ بلندۍ غوندي جید او مضبوطه ښکاره کېدل. شپه د شرم او د خوف نه وېرېدلي په ګنو کې را کوزه شوه. څلورو واړو ډډو ته یو زړۀ خوئینکي سناټا وه. تش زما شاته شاته راتلونکي سپۍ به آسمان ته مخ اوچت کړواو دولۍ (روړي) وهل به ئي شروع کړې. دا رومي هم څه عجیبه شان سپۍ ده. د ورځي هیڅ کله نه ژاړي. خاموشي سره بغیر د چاپه به زما سره په ګنو کې پټه ناسته وه. چي زه به روان شم دا به هم روانه شي. چي زه ودرېږم دا هم ودریږي. خو زما نه لري لري اوسي ځکه چي یو ځل ما  په قهر کې هغې له لته ورکړه خو د لتې د خوړلو نه مخکي رومي شاته شوه او زما وار تش لاړی. د هغې نه پس رومي ډېر د هوښیاري نه کار اخلي ځکه چي د رومي په خېټه کې د هغې بچي ۆ او هغې به د هغوئ حفاظت هم کولو او په خپل دانست کې زما هم! ځکه رومي زما شاته خو زما نه به لري لري راروانه وه. د ورځې به بېخي خاموشي وه ځکه چي د ورځي به د حملې ویره نه وه. نه پوهیږم چي دومره عقل دې سپۍ ته چا ښودلې ۆ؟ هغې به تش د شپې ژړل او مخ به ئي آسمان طرف ته اوچت کړو او دولۍ به ئې وهلي. هلته برَه په آسمان کې څوک دی رومي، چي ته ورته ګوري او فریاد کوې! نن خو د آسمان رنګ تور دی او چرته چي یو ستورى

هم نه ځليږي، او زمکه ښخي خاموشه او وېرېدلي ده او آسمان د يوې غاړې نه بلي غاړې پوري يوه ګونګی سناټا خوَره ده. سيلۍ هم زبيرګي نه کوي، او ډواړو ډډو ته د قلا دېوالونه ډېر مظبوطه او جيَد دي. ستا د فرياد آواز دا مظبوطه تياره نه شي څيرَلی او هيچرته نه شي تلی ځکه چي د تيارې زړه نه وي، تش خپټه وي او فرياد تش زړه اورېدی شي، د خيټې خو تش وينه څښل ايزده وي.

لږ وخت پوري خو زه هغه شان روان وم روان وم. په زړه کې مې دا خيال ؤچي ما دا لاره ومونتله نو لکه چي ما د سينده پوري د بچ کېدو لاره ومونته خو يو څو ميله پس ماته داسي ښکاره شوه لکه چي ما لاره هېره کړه دا خو هغه لار نه ده چې کومه زما خيال ؤ، دا خو څه بله لار وهٔ او خبر نه يم چي کمې خوا ته ځي! تنګه لاره رورو پراخه کېده. رو رو په دې لاره د قافلې دَ تېرېدونخښي په نظر راتلۀ شروع شوې. د سينکړاو قدمونوځپېدلي خوره چرته پټه وي. په لاره کې په غاړه راته يو بوډا جاټ ملاؤ شو چي زبيرګي ئې کوَل. زه د هغه سره نيزدې ودرېدم نو هغه ماته داسي وکتل لکه چي مرګ ته ګوري. ما ورته ووئيل " وېرېږه مه، زه هم يو ريفيوجي يم!"

په هغه کې ساه راغله. د هغه پړسېدلي مرئي دوهٔ دري ځله په خاموشي سره برَه ښکته شوه، بيا د هغه په حلق کې نښتي واز ډير په ګرانه د ټوخي سره راووَتو.......

واهېګورو....... واهېګورو....... ما خو وئيل که........"

" ته غلط پویه شوې. بابا، ته دلته ولې پروت ئې؟"

" زما بچو زه د ځان سره بو نه تلم!"

" ولې ئې بو نه تلې؟"

" ځکه چې زه ګرځېدی نه شم زویا! ډېر بوډا شوې یم"

" ستا څو زامن دي؟"

" درې ؤ. درې واړه ځوانان او تندرسته ؤ. دې ځې پورې خو زه هغوئ راوړم خو چې دلته حمله شوه نوهغوی دلته پرېښودم او وتښتېدل...."

"چچ چچ ........" ما د همدردی اظهار وکړو.

بوډا زما د همدردی نه غلط مطلب واخیستو. منتونه ئې شروع کړل او و ئې وئیل؛ " زویا ما ده دې ځې نه د پوله پوري یوسه. ما اورېدلي چې دَ راوي پل دې ځې ته نیزدې دی. زه د پوله پوري ورسم نوتاته به ټول عمر دعا ګانې کوم. بس په څه چل ما د پوله پوري ورَسَوه"۔

ما ورته ووئیل " بابا! زه پخپله د هغې پوله پورې رسېدل غواړم، چې ځان ورسوم نو ډېره د سکون خبَره به وشي، تا به چرته ګرځوم".

" ما د ځان سره بوځه زویا. د ځان سره مې بوځه......" زه روان شوم.

بوډا یو څو ګامه ما پسې راسولېدو او منتونه ئې کوَل.

" زویا ما د ځان سره بوځه. زویا ......... زویا.......هغه پل..... بس د هغې پله پوري مي و ـرَسَوه—زویا.......زویا". بوډا زما پښه و نیوله. ما په زوره خپله پښه راښکله. بوډا په سرکونډو سرکونډولاړو او د لاري په یو کډي کې پریوَتو. سپی په زوره چیغي کړې او ما ته ئې په بټو بټو سترګو کتل. ډېرې ورځي مخکي د جیک لنډن یوه قیصه ما لوَستلي وه. په هغي کې هغه وئیلي و چي د امریکې په اصلي باشندو کې دا دستور دې چي کله پلار ډېر بوډا شي نو د هغه په کټ کې اووه ورځو ډوډی، د اوووه ورځو تماکو او د اووه ورځوو به کیږدي او بیا ئي په ژمي کې د واورو په میدان کې یوازي پریږدي! دا د هغي ورځو خبره چي کله انسان ځنګلي او قبائیلي ؤ؛ چي د پیدوار ذرائع ځنګلي ( وحشي) وي غیر تهذیب یافته ؤ؛ چي خوراک لږ دستیاب ؤ؛ د تیز او تیرۀ سیلۍ نه به وارشه ( چراه ګاه) یو دم وچ شو او انسان به د قدرت د بې رحمه لاسونو ګزار خوَړلو او د یو ځي نه به بل ځي ته د ډوډئي په تلاش کې ګرځېدو.

خو نن خو د تهذیب دور دی. دواړو ډډو ته ګنو پټې ؤ. لري چرته د راوي پل دی او نزدې په یو سټیشن ګاډی شپیلۍ وهي، د انسان د عظمت اعلان کوي او تېرېږي.

خو هغه په کډي کې غورځېدلی بوډا په خاموشه نظر زما نه څه تپوس کوي؟

د انسان عظمت به د دې تور او تاریکه کډې نه بهرکله را وزي؟ هونهه؟ ما خپل سوچ بدل کړو. ولي یواځي ما د انسان د تهذیب ټیکه اخیستي ده؟ چي د هغه بوډا زامنو هغه بچ نه کړی شو نو په ما د هغه د بچ کولو ذمه داري د کوم ځي نه عائده کیږي؟ جهنم ته دې ځي هغه بوډا! او کم بختې سپۍ که تا بیا زه داسي ملامته کړمه کنه نو په لټو به دي هډوکي مات کړم.

ما د سپۍ د وهلو د پاره پښه اوچته کړه، رومي فورا شاته ؤتښتېده!

زه مخته روان شوم. مخته لاره نوره هم پراخه شوه او د یو لوئ او پوخ سړک سره و جنګېده!

یوه قافله لکه چي د دې ځي نه تېره شوي وه ځکه چي یو ځای کې یو پریکشوي لاس پروت ؤ. تش یو لاس؛ باقي بدن غېب ؤ؛ نه تنا ، نه سر ، نه رون، نه پښه نه مخ، نه ملا؛ تش یو لاس په لاره کې پروت ؤ؛ زما لاره نیولي دا لاس زما په لاره کې پروت ؤ او تَلې ئې آسمان طرف ته خلاس پروت ؤ.۱

تش یوه لیچه، یو اندام، یو لاس........ خلاص لاس، آسمان ته ئې کتل. دې لاس به یو وخت کې ایوه کړي وي، چرته به ئې شوتې کړې وي. دا لاس به چرته یو کله د چا د ملا نه تاؤ شوې وي، یو کله به ئې د مینې نه خپل ماشوم اوچت کړی وي. دې لاس به چرته ګوَل بوی کړی وي، چرته به دې لاس د چا زلفي خوَري کړي وي. دې لاس به پولونه جوړ کړي وي، او ښارونه ئې

آباد کړي ؤ، ګلونو نه ئې کرَلي ؤ. د خپلې محبوبي مخ به ئې لټوَلی وي او په هغې به ئې د خپل آرام او عافيت تصويرونه موندلي وي، او نن دا لاس د خورو نه ډک آسمان ته ګوري. دا لاس ولي د چا هندو دی؟ يا د يو مسلمان دی؟ يا د سيک دی؟ که د عيسائي دی؟ دا لاس چي هيڅ نه وای، تش خپلې پنځه واړه ګوَتې ئې اوچتې کړي دي او آسمان ته ګوري. دا د چا لاس دی؟ او که چېرې دا د يو انسان لا س دې نو هغه انسان نن چرته دې؟

ها ها ها! احمقان تپوس کوي، وائي؛ سپی فرياد کوي، خو قافله مخته روانه وي........

ما د لاس نه ټوپ کړل او مخته روان شوم. لږ لري تلو نه پس يو آواز راغلی. يو نری نسواني آواز ؤ. د زبيرګو واز ؤ. زه لږ په سوچ کې وَدرېدم.

په لاره کې درې ماشومان مړه پراته ؤ. هغې ته نيزدې يوه ښځه د زخمونو نه زېېدلي زبيرګي ئې کوَل. ماته ئې چي ځنګه وکتل نو ووي؛

" رورا! زما ځان، مخکي ما مړه کړه!"

د ښځي ملا ته نزدي ډېر شې وينه بهېدلي وه او وچه شوي وه، څه لږه لږه شان بهېدله.

ما د هغې نه تپوس وکړو؛ ته مسلمانانو وهلی ئې؟"

هغې وئيل؛ ' نه..... زما خاوند زما درې واړه ماشومان مړه کړل، زه ئې هم مړه کوَلم خو زه بد قسمته بچ شومه خو ساه مي نه وزي".

" چي په قافلې حمله وشوه نو زما خوند زه پرېښودم او د حمله آورو مقابلې له تلونو ما ورله لاس ونيوو او په ژړا ژړا مي ورته ووئيل؛ " تۀ ځې! ته چرته ځې؟ ما او زما بچي د چا په آسرې پرېږدې؟"

" په دې زما خوند ماته په قهر وکتل او چاړه ئې را وايسته او زما درې واړه ماشومان ئې و وژل. زه د ويري نه و تښتېدم، هغه په زوره چاړه په ما را وغورزوله چي زما په ملا کې و لګېده. قافله لاړه. زه هم دلته زېپدلم خو زما ساه نه وزي. په يو شان زما ساه نه وزي—روره تا سره دې خدای ښه وکړي. ته زما ساه واخله، ما ختمه کړه".

ما ورته ووئيل؛ " بي بي وېرېږه مه، د سحَره پوري به سته ساه پخپله ووزي. ماته د دې ګناه څله وائي!". ما خو دا وئيل او مخته روان شوم خو د ډېره ساعته پورې ماته د هغې ښځې د کنځلو واز راتلو؛ " وائي ستا دې هيڅ پاتي نه شي. ستا دي کور بار و سوَزي. ( هغه خو سوی دي)، ستا دي مور مړه شي ( کېدی شي چي هغه هم مړه شوي وي)، ستا دي بچي د ولَږي نه مره شي ( هغه خو مړه کيږي).........په کم بخته تانه زما دومره کار و نه شو؟"

ناساپه په تلو تلو کې ما دا محسوس کړل لکه چي ما په زرګونو میله سفر کړی دی او ستړی شوم، ما وبائلله. زما ګامونه ګډ وډ شو او زه د ګنو په تېره پاڼو په بستري پرېوَتم او اودهٔ شوم.

چي پاسېدم نو سحر شوې ۇ. نوَر را ختَلې ۇ. رومي زما د پښو سره اودهٔ وه او نیزدي په سړک یوه نوي قافله تېرېدله. زه د ګنونه را ووَتم او په قافله کې شامله شوم. په بدن مي داسي بې حسي وهٔ لکه چي د سوچ او د پوهي ټول قوَتونه مې شل شوي وي. خلقو لکه په ړندو سترګو منډې وهلي، تیز تیز ګامونه ئې اخیستل او روان ۇ. زه هم د هغوی سره یو ځای شوم. یو چرته خو به ورسو، یو چرته خو به لاړ شو........ دا بې وسه قافله یو چرته خو به و رسي؟

اوس چي څه کیږي هغه به کیږي!

# شپږم باب

د ګڼې په کم ځلور خانيز کې زه روان وم.چې يو طرف ته ئې دَ ټولې قافلې نمائيندګي کوله. زما نه مخته ځلورو ځوانانو خپل بوډا پلارپه کټ لکه د مړي راخيستی ؤ او روان ؤ، او مختلفه پنډوکې په هغې کټ د بوډا نه خوا او شا تړلي شوي ؤ. زما نه مخکې يو سيک جاټ بوزئي وهلي، په لاس کې چړه نيولي خپلې ښځې سره روان ؤ. دواړو په سرونو غټ غټ پنډونه ايښي ؤ. زما نه شاته يوه غټه رېړه راروانه وه چې دوَو غوَيو راښکله. هغې رېړه کې يوه سيکه کورنۍ د خپل سامان سره ناسته وه. دا خلق د اوچت حېثيت زميندارانِ معلومېدل. زما طرَف ته بوډا کولال، تور رنګې او سپينو بريتونو سره روان ؤ. هغه خپل لنګ د ګوډو نه برَه کلک تړلی ؤ او د پښو رګونه د مضبوطه لکه د مهي د جال په شان ښکاره کېدل. بوډا يو لاس کې پنډوکی او بل لاس ئې د خپلي لور لاس نيولی ؤ. لور ئې ډېره ښائيسته وه او چي به کله د خپلو غټو غټو سترګو اوږده باڼه لکه چې ډېر په ګرانه اوچت کړل او چاته به ئې وکتل نو د کتونکي زړۀ به په ډوبېدو شو. د هغي په حيا داره سوګواره ښائيست کې يوه عجيبه شان بلنه وه. د هغي بهر پوره ځوانئي نه کله په ناز نرم ګرځېدلو کې داسي کشش ؤ لکه چې هغه چرته منډې نه وهي، تښتي نه بلکې خلق په هغه پسې منډې وهي. هغه په مونږ ټولو کې لکه د شمعې په شان ښکارېده چي پي د ژوند دا ځلور خانه روښانه شوه. هر کس

به ورته د سترګو په ګوټ وکتل او مخته به روان شو. مرګ په سر ولاړ و خو د حسن دَ بلَني نه انکار جرات په هیچا کې نه ؤ. هر کس هغې ته یو نظر په کتلو باندي مجبوره ؤ.

زه د هندو کولال سره سره روان وم. لږ ساعت پس ما د کولال نه تپوس وکړو.

" د کوم ځي نه راروان ئې؟"

" چي هر ځي نه راروان یم ته ئې څه کوې" کولال ډېر په ترخه لهجه کې جواب را کړو. ډېر ساعته پوري خاموشي وه. مونږ دواړه یو ځای روان ؤ. آخر کار ما یو ځل بیا همت وکړو او تپوس مي وکړو؛ " دا ستا لور ده؟"

" نور څه ستا ده؟" کولال ډېر په قهر ماته ووئیل او کلک ئې د هغې جینۍ لاس ونیوو. هغې جینۍ هم ماته وکتل؛ نو لکه چي په ډنډ کې دوه ګلِ نیلم(کنول) روغړیږي. لکه چي د ډنډ اوبه په رورو چپې وهي، لکه چي زه په هغې ډنډ کې ډوبېږم. هغه شګفته، شفافه شرابي نظر...... لکه دَ شېمپین شراب!

اف......اف ...... ما د ویري نه مخ واړوو. په اصل کې زه په دې معاملو کې بې حده کمزوری یم. حاجي، برک، میان ټول په دې خبري خبر ؤ او خپل زړونه ئې هم پېژندل. ګو چې په دې معامله کې هغوئ هم زما په شان کمزوري ښکاره کوي خو هغوئ پېچیده او پراسراره غوندي خلق دي او همېشه خپله کمزوري پټه کړي. او زه یم خر، بې وقوفه. زه پټه ولې نه شم......... هم دلته زه وهَل خوَرم.

کولال چي مې په قهر ولیدو نو نوره ګفتګو مې ورسره مناسبه ونه ګڼله، خو زه په دې ډېر سوځېدم چې یو زلمی سیک د هغې جینۍ سره روان ؤ. د هغه ونه د شپږ فیټه نه په بړه ؤ. په مخ ئې ډېره ښائیسته نرۍ ږیره وه چي په پکې د هغه مخ نور هم ښائیسته ښکاره کېدو. هغه زلمی او د کولال لور د یو بل سره متعارفه هم نه ؤ خو بیا هم یو ځای سنګ په سنګ روان ؤ. ګو چې د یو بل سره د خبرو همت نه ؤ خو بیا به ئې هم یؤ بل ته په خوږ نظر وکتل. لږ ساعته پوري خو زه سوځېدم خو چي ما په زړه کې خپله او د هغه سیک جاټ موازنه وکړه نو خپل ځان راته په هر اعتبار کم تره ښکاره شو، نو ما هتهیار واچول. د یو سوړ اسوېلي سره مي اخیري ځل هغې جینۍ ته وکتل او بیا زر شان مخته لاړم او د قافلې په بل ځلور خانیز کې ور داخل شوم. اوس زما دا کوشش ؤ چې څوک د پېژندګلو کس سره مې ملاقات وشي یا راته څوک د خپل کلي کس ملاؤ شي چي زه ترې د خپل خاندان، او د خپلې ښځې او د بچو خبر واخلم. بیا وږی شوی هم ډېر سخت وم. که د هغه سره ډوډی وي نو زه به ترې ډوډی هم وغواړم. خو ډېر د تلاش نه پس هم ماته څوک داسې کس ملاؤ نه شو او په دې حق لره زه مایوسه شوم.

د غرمې قافلې په وسیع میدان کې آرام وکړو. دلته د ګنو پټې ختمېدل او د سیند وانښه شروع شول. په یو څو ختونو شوي د خپلي خورینو پاڼو سره ولاړي وي. د لرې نه د راوي غاړه ښکارېده، پیکه شان لکه چي په آسمان کې ډوبه ده. آسمان خورین او سخا ؤ. زمکه وچه او کړسه ښکاره کېده. د خوورو او دوړو نه د خلقو مخونه ډک ؤ. ټولو په تندو لاس ایښی ؤ او د ډېره بابا نانک پل ئې کتو خو معلومه نه ده چې پل زمکي وخوړو که آسمان. پل هیچرته نه ښکارېدواو هغه خلق د پل په

تلاش کې راغلي ؤ. د قافلی لیډرانو د محلِ وقوع نه اندازه واخیسته چې هغوی لاره غلطه کړي ده. اوس د هغې پله پوري د رسېدو د پاره درې میله د لمر خاته طرف تلل ؤ، بیا د ښي لاس نه ګس لاس ته تاوېدل، پنځه میله نور تلل ؤ.

خلق دَ دوو دریو، لسو شلو په پینډو کې کښېنستل ډوډی ئې خوړه. د قافلې هندوانو او سیکانو ځوانانو خوا او شا څوکی ورکولې. ډندې، چړې، کرپان ( یو قسمه هتهیار ) سوټي او دېسي ټوپکو نه مسلح، د څه خلقو سره تمانچې هم وې. ځیني خلقو هسې ډنډې هم راخیسي وې او په پرېشانه نظر ئې په فضا کې کتل خو په ظاهري طور د غصې او سختی باوجود په زړه کې ټول وېرېدلي ؤ. او کله کله سترګو کې ئې غل شان، وېرېدلی، یو مړ شان نظر ښکاره شو نو لکه چې د زړه ټول راز ئې ووئیل. ما نه صبر و نه شو. زه بیا د هغه هندو کولال او هغې جینۍ له ورَغلم، یعني چې په کمې پینډي کې چې هغوی ناست ؤ او ډوډی ئې خوړه. هغه جینۍ چپ چاپ د پلار سره ناسته وه او ډوډی خوړه. هغې طرف ته شا کړه هغه ښائیسته او باوقاره سیک د کمالې لا پروائي سره خپله ډوډی خوړلو کې مصروفه ؤ. ګڼه ډیره زیاته وه او ځائي ډېر لږ ؤ ځکه د ښائستې جینۍ شا د هغه ځوان سیک د ملا سره جنګېدلي وه، ګوره چي څنګه د بجلی کرنټ به د دواړو په بدن کې منډې وهي، زه سوَځېدم او سوچ مې کوو خو دې نه مې مخته هیڅ سوچ و نه کړی شو. ولګي ډېر بې تابه کړم. ما دوه درې کسانو نه ډوډی وغوښته خو هیچا هم را نه کړه. اخیر سردار لهنا سنګ او د هغه بنو (ښځه) زه د ځان سره په ډوډی کې شریک کړم.

ټولو نه زیاته نخره او رعب ښودلو والا د هغې خوشحاله زمیندار کورنۍ وه چي د غوَئې په رېړه کې ئې سفر کوو. د هغوی بچو په داسې موقع هم د داسي شان او د امارت ثبوت ورکړو لکه چي هغوی به د غوئې په ریړه کې نه بلکې په یو موټر کې سفر کوي!

مونږلا د اوسه پوري ډوډۍ خوړه چي ناساپه د خټونو نه شاته نه د دوړو یو طوفان والوَتو. څوکیدارانو شور جوړکړو خلقو خپله خپله ډوډۍ پرېښوده او منډې ئې کړې. د خوشحاله کورنۍ بچي په ریړه کې ولاړ ؤ او ژړل ئې او د هغوی میندو خپلي سیني وهلي.

لهنا سینګ د بنتو نه خپل لاس راښکلواو هغې ته ئې ووئیل؛

"د خپلو لیچو بنګړي مات کړه!"

بنتو په زوره یوه لیچه د بلي لیچی سره و وهله او دشیشی بنګري ئې مات کړل.

لهنا سینګ شونډي وچیچلي او ووئیل؛

ووایه چي د نن نه ستا خاوند مړ شو"

د بنتو په سترګو کې اوښکې راغلي خو په خوله ئې هیڅ و نه وې.

لهنا سینګ چاړه په لاس کې نیولي د مسلمانانو مقابلې له د څوکیدارانو طرف ته لاړو. بنتو په سر پنډ ایښودی ؤ او هغه ته

ئې کتل. کولال د ويري نه چيغې کړې؛ " هاى زما لور......جمنا........جمنا......."

خو جمنا هغه سيک زلمي په غيږ کې راخيستي وه او د ګنو پټو ته ئې منډې وهلې. کولال ډېرې چيغې ووهلي، فرياد ئې وکړو خو هغه ډېر د نفسا نفسي عالم ؤ. مسلمان حمله آورو په قافلې حمله وکړه. ټولوخلقو د ځان بچ کولو د پاره اخوا دېخوا منډې وهلې. د چا نه کېدل چې د خپل ځان بچ کولو په ځاى د کولال د لور عزت بچ کړى وي! ما هم يو طرف ته منډه کړه. اول خو مې سيند طرف ته منډه کړه ځکه د ونو د بڼ شاته نه مسلمانانو حمله کوله ځکه ما مخالفې ډډې ته منډه کړه خو چې مې وليدل چې حمله آورو په اسپو د سيند لاره هم ونيوله نو په سترې ستومانه ځان مې د ګنو طرف ته منډه کړه. ګنو ته لا رسېدلى نه وم چې د پټو نه هم حمله آور راووتل او هر يو مسلمان خپل بلم (يو هتهيار ) زما په سينه کېښودو.

هغه لمحه ماته ياده ده؛ هيڅ کله به ئې هېره نه کړم؛ هيڅ کله به مې هېره نه شي. بلم زما په سينه ؤ او زما څلورو واړو طرف ته مسلمان حمله آور ولاړ ؤ او د هغوى شاته په يو غټ اس باندې ناست د خپلي پګړى په شمله باندې خپل نيم مخ پټ کړى په رکابونو کې ئې پښې اچولي ناست ؤ.

يو دم ما د دړولو په انداز کې لاس اوچت کړو، مسکى شوم او د هغه سوار په سترګو کې مې سترګې ښخې کړې او په خندا مې ووئيل؛ " څه قسمت دى زمونږه هم؛ ټول عمر مونږ لکه د کميونسټ په شان پاکستان له پروپېګنډه کوله، د

مسلمانانو د حقِ آزادي د پاره مو جنګ کولو او نن چي پاکستان جوړ شو نو دا بلَم( يو هتهيار) زما په سينه کيښودی شو!"

پته نشته چي څنګه دا ټکي زما د خلې نه ووتل؛ هغه کوم طاقت ؤ چي په ما ئې دا ټکي ووئيل ځکه چې زه خو نه يو کميونسټ وم او نه ما د ننه پورې په سياسي تحريک کې حصه اخيستي وه. زه خو يؤ خوَړو څښلو والا يو سوکاله او خوشحاله انسان وم چي د چا هندو، مسلمان، سيک دوستان هم دغه شان ؤ. مونږ په لاهور کې خپل خپل کاروبار کوو او ماښام به ټول يو ځای شو او محفلونه به مو کوَل. زمونږ د سياست سره څه کار؟ زمونږ سياست خو تش د خلې بحثونه، اخباري جنګونه او د کتابي مطالعو پوري محدوده ؤ! دا خو د وړو خلقو خبَري وې. بيا...... څنګه زما مازغو په هغه لمحه کې زما د بچ کولو د پاره دا اخيري بهانه يا حربه وموندله. زه چي نن هم دا سوچ کوم نو هيڅ نه شم وئيلی. دومره پوهېږم چي زما د دې لوظونو د مخالفي ګڼي په اسپي ناست سردار باندي لکه د بجلی اثر وشو. هغه په تېز نظر زما خاموشه، مطمئن او د مسکي نه ډک مخ ته وکتل او بيا ئې د لاس په اشاره ووئيل؛ " دا پرېږده".

مسلمان بلَم زما د سينې نه لرې کړو او د الله اکبر د نعرې سره مخته لاړه او په قافلې ئې حمله کړه. چي زه څنګه يواځی شوم نو منډه مي کړه. چرته مې منډه کړه، څنګه مي منډه کړه، کوم طرف ته مي منډه کړه؟ په دې نن هم نه پوهېږم. دومره پوهېږم چي بس منډې مي وهلي. د ګنو نه تېرېدم. د پټو په مينډهون

باندې مي منډې وهلې. زه په کډي کې غورځېدم ، کله په لختو کې غورځېدم، په خټونه ختلم. د شګو د میدانونو نه تېرېدلم. د رېلوې لین په پټلو مي منډې وهلې. د یو ښکار کېدونکي ځناور په شان مي د خپل بدن او روح ټول زور مي لګولو او د ځان د بچ کېدو د پاره مې منډې وهلې. کمې خوا ته مې منډې وهلې؟ ولې مې منډې وهلې؟ څنګه مې منډې وهلې؟ څومره ساعته پورې مې منډې وهلې؟ د دې ټولو خبَرو په باره کې زه نن هم په وثوق سره هیڅ نه شم وئیلی. دومره راته یاد دي چې ماښام شو نو ناساپه راته ځان دربار صاحب کرتار پور د ګوردوارې مخې ته ښکاره شو. دګوردوارې مضبوطه دروازې ته یوه د وسپَني جرندۀ وه اود دروازې یو طرف ته د لرګي یو غټ تخته پوش باندي یو بوډا سیک او د هغه بوډۍ ښځه ناسته وه او په اوچت آواز د ګورو ګرنت صاحب پاټ ( عبادت) کولو. ماته چې ئې وکتل نو د یوې لحظې د پاره چپ شول. ما چې هغوی ته وکتل نو ودرېدم.

"بابا جي تاسو دلته ولي ناست یئ؟" ما د هغه بوډا سیک نه تپوس وکړو؛ " ولي تاسو ته هیڅ معلومه نه ده!"

" مونږ ته هر څه معلوم دي، زویا" هغه بوډا سیک د مکمله اطمنان سره ووئیل؛ " بیا هم مونږ هم دلته یو ځکه چې ځو نو چرته به ځو؟ زمونږ اولاد نشته، بال بچي هم نشته، د لري لري پوري مو خپلوان نشته، څه جائیداد، څه کور هم نشته. مونږ دواړو چې د کم ګورو په پښو کې ټول عمر تېر کړو؛ هم دلته به اوسو، هم دلته به مرو. دومره ئې ووئیل او بیا ئې دګورو نانک عبادت شروع کړو.

ما سر ټيټ کړو او د هغې ځي نه روان شوم اود ګوردوارې ځلورو واړو ډډو ته و ګرځېدم. چرته چي څه يو هم متنفس ښکاره نه شو خو شپه خوَربده او چرته هم لاره نه ښکاره کېده.

ګوردوارى ته نزدي يو غټ کوهى ؤ. زه د هغې په ډبه وخَتم او د کرکړي په آسرى کوهي ته ورکوز شوم. ما په دواړو لاسونو د کوهي  کرکړې مي ونيولې او خپل بدن مې په کوهي کې دننه غاړي باندې سست شان پرېښودو. د يخو ټنډو لمس زما په سټري بدن ډېر ښه لګيدواو زه  په هغه کوهي کې، هم په هغه ټنډو کې وده شوم. څنګه وده شوم؟ څومره وده شوم؟ په دې خو نه يم خبر خو چي پاسېدم نو سحر شوى ؤ. د نوَر رڼا کوهي کې دننه راښکاره شوي وه او د کوهي په ډبه يوي سپيۍ آسمان ته مخ کړى ؤاو دولۍ ئې وهلي.

زه د کوهي نه را ووَتم او د ګوردوارې دروازى طرف ته لاړم.

بهر د لرګي په تخت هغه بوډا سيک او د هغه بوډۍ ښځه مړه پراته ؤ. پته نشته چي کله او څه وخت د شپي حمله آورو هغوى قتل کړل.

# اووَم باب

ګوردواري نه چي يو څو فرلانګه مخته اووَتم نو لاره صفا وه. اوس د راوي لاره صفا ښکارېدله او د سيند پل هم. يو نيم ريفيوجي هم په منډه د سيند طرف راتلو. په هغې خلقو کې ما جمنا هم اوليده خو دې ځل ته د هغې سره هغه سيک زلمی نه او، يو تک سپين د سرو سرو اننګو والا يو پيښوری ځوان او او هغه د جمنا لاس په مضبوطي سره نيولی ؤ. جمنا يوه لمحه ماته اوکتل او بيا ئې سترګي ښکته کړې. د هغې سترګي د اوښکو نه ډکي وې. ما د جمنا نه تپوس اوکړو" ستا د پلار څه وشو؟"

" ووَژل شو!"

" او......او.......هغه؟"

" هغه هم ووَژل شو"

جمنا سر نور هم لاندي کړو. هغه پښتون ځوان د کمر بند په تمانچه لاس کېښودو، ماته ئې وکتل او ووئيل؛

" ځه، ځه. مخته ځه. فضول خبَري مه کوه!"

زه زر د هغوی نه جدا شوم او مخته لاړم. رومي ما پسې شاته شاته راروانه وه. ما دوه درې ځله هغه اورَتِله، بيا به هم هغې

ماته څه په عجیبه نظر کتل، د میني نه ئې لکۍ وخوزوله او ما پسې شاته راتله.

سیند اوس نیزدې کېدو. راوي هم اوس په واضح صورت کې را نمودار شو، خو ما په پل باندي تېرېدل مناسبه و نه ګڼل. په پل د پاکستان غاړي ته د مسلمان حمله آورو ځای ؤ او د پل هندوستاني غاړې ته د هندوستاني حمله آورو اډې وې. او د هندوانو او د مسلمانانو قافلې دواړو طرف ته لوټ کېدی او وژل کېدل. په پل باندي تش د فوج څوکی وه چي کمان ئې د یو انګرېز افسر په لاس کې ؤ خو د هغه تش دومره کار ؤ چي د هندوانو او د مسلمانانو قافلې په نمبر نمبر د ځان او د مال د سلامتۍ سره تېرې کړي. پاکستان کې څه کیږي، هندوستان کې څه کیږي، د دې هغوی ذمه دار نه ؤ.

اوس زه د سیند په غاړه ولاړ وم. د راوي هغې غاړي ته د ځان سلامتي وه. مخامخ غاړې ته ماته په سینکړاو خیمې ښکارېدلې. په زرګونو خلق د سیند په غاړه لمر ته ناست ؤ یا ملاست ؤ. ښځو ویښته خلاص کړي ؤ او یو بل له ئې سپېږي غوښتې. چا ډوډی پخوله. څه خلګ لامبل. ماشومانو په شګو کې کورونه جوړَوَل او د خوشحالی نه چیغې وهلي او یو بل پسې ئې منډې وهلې.

مخامخ غاړې ته سلامتي وه اود یو نوي ژوند نوید؟

او دي غاړي ته د مرګ او د ژوند په مینځ کې ولاړ ما سوچ کولو؛ هغې کنارې ته به څنګه رسم؟که په پل ځم نو د

مسلمانانو د سنګر نه به تېرېږم او ما په څه چل د دې ځي پوري بچ کړو اوس په مزيد خطرې کې اچولو ته تيار نه وم.

رومي زما د پښو سره ولاړه ټياون ټياون ئې کول. ما هغه په لته ووهله؛ " ځه لاړه شه، تښته، واپس ځه".

خو سپی هم هلته ولاړه ټياون ټياون ئې کول.

په سوچ سوچ مي آخر خپل همت رابيدار کړو. ما جامې و يستلي او سترګي مې پټې کړې او سيند ته مي ودانګل. بلې غاړي ته څه خلګو زه اوليدم چي ما ټوپ کړل، چيغې ئې کړې؛ " منډی کړی....... منډی کړی....... يو غريب هندو ځوان ډوبيږي، هغه بچ کړی" – ما په سيند کې لامبو وهله. رومي په غاړه ولاړه وه. يو څو لمحو د پاره چپ وه. شايد چي د هغې په زړۀ کې جنګ ؤ، چي هغه دي زما سره وي که د خپلو بچو سره چي د هغي په خيټه کې ؤ؟ د هغې پښي رپېدلي او ټياون ټياون ئې کول.

" ستړنه شه، رومي! رومي، واپس لاړه شه!"

خو رومي سيند ته و دانګل.

د اوبو چپه په زوره وخ. بيا هم رومي د خپل پوره طاقت استعمال کولو سره ئې زما شاته شاته لامبو وهله. د هغي وړه شانتي مخوکه د اوبو نه لږه بهر وه او د هغې په بټو بټو سترګو کې د ويري او د وحشت سره سره يو عجيبه شان مضبوطي او ضد، او همت او د بهادرري جهلک ؤ.

ما چیغه کړه؛ " رومي واپس لاړه شه، واپس لاړه شه. ما پسي مه راځه".

رومي په پوره قوت سره ما پسي لامبو وهله.

بیا د اوبو یوه زوره وره چپه  راغله او رومي په ډوبېدو شوه. ما ړومبی خو رومي د ځان نه په لرېکېدو ولیده. هغه په بې بسي سره په تېزو چپو کې د لاسو پښو وهلو ولیده. بیا د هغې مخوکه ډوبه شوه. بیا د هغي سترګی ډوبي شوي. آخر غوږونه ډوب شو او په سرکونډو سرکونډو د هغي لاش د اوبو په چپو کې ډوب شو.

" ته به هم مړه کېدې رومي. تا به زما مرَسته کوله؟ چي ټولو پرېښودم. چي ملک پرېښودم، او زمکي او کلي او خاندان او د کور خلقو او دوستانو ملګرو. چي هغي زمکي هم زه پرېښودم چي د چا سره مونږ د زرګونو کالو نه میني او محبت عهد و پیمان تړلی ؤ، نو ستا دا حقیره سپی به زما سره وه؟ انسان ته د ښودلو د پاره؛ دا زپاتلو د پاره چي قدرت نن هم په زړه کې مینه لري! او فطرت نن هم د الفت او د مهرو وفا سبق ایزده کوي. بې وقوفه، انجانه، نا پوهه ، احمقه سپیۍ، ولي ځان ختم کړو؟ ولي دې د هغه حقیره انسان د پارهٔ د خپلو بچو قرباني ورکره چي نن د خپل مقصد نه اوړېدلی دی؟ او د ظلم و ستم په وینو خپل مستقبل داغداره کوي.

رومي مړه شوه او د هغي سرَه شاید چي یو عهد مړ شو، یو تهذیب مړ شو، یو داستان وران شو، د تاریخ یوه پاڼه واوړېده

او زما سترګي د اوښکو نه ډکې شوي، او ماته دا معلومه نه شوه چي د اوښکو په ځپو کې ډوبيږم که د اوبو په ځپو کې! څنګه زه بلي غاړي ته را اورسېدم؟ دا هم راته ياد نه دي. شايد د اوښکو هم دې ځپو زه بلي غاړې ته بوتلم. شايد چي د مرګ په وخت کې رومي خپل قوت هم ماته را و بخښلو. ماته بس دومره ياد دي چي بلي غاړي ته نيزدي و رسېدم نو يو څو ځوانانو زه د لاس نه و نيوَلم او غاړي ته ئې راښکلوم.

بيا يوې ښځې وئيل؛ " های های دا خو بېخي لوڅ لغړ دی!" او دې سره هغې ښځې خپله لوپټه زما په بدن وا چوله.

بيا زه بې هوشه شوم.

# اتم باب

بله ورځ د شرناتهیانو په کېمپ کې په لټوولو لټوولو کې ما آخر خپل خاندان وموندلو. واضح دې وي چي کوم هندوان او سیکان چې د هلته نه تالا والا دلته راغلي ؤ، هغوی شرناتهیان یادېدل او دلته نه چې کوم مسلمانان تالا والا هلته ځي هغوی ته مهاجر وئیل کیږي. هندو چرته مهاجر نه شي کیدی او مسلمان چرته شرناتهي نه شي کېدی. د شدید نه شدید مصیبت کې هم دا تفریق ساتلی کېدو. زما د کور خلګو چي زه ولیدم نو ډېر خوشحاله شو او د خوشحالی نه په ژړا شو. زما ښځه په یو ګوَټ کې ناسته وه یو خیرن شان پیټي کوټ او بلاوز ئې اچولی ؤ د هغې په تن بله هیڅ څه جامه نه وه ځکه چي هغه هم په دي حالت کې د کور نه تښتېدلي وه. ما د هغې نه تپوس وکړو؛ " منّا چرته دی؟"
هغي هیڅ و نه وئیل. لږ ساعت پوري ئې خو د پښې په غټې ګوَتي زمکه را کنله بیا ئې زما پښې ونیولي او په ژړا شوه. زه په هیڅ پویه نه شوم.
آخر زما رور ماته وئیل چې؛ ' منّا مسلمانانو ووژلو. هغوی خو به ستا ښځه هم بوتلّي وای هغه عاجزه خو په څه چل بچ شوه خو خور بوتلو کې هغوی کامیاب شو. مرسته نا وخته را ورسېدو".
"سروج خور هم.......؟"

زما خلې نه بې اختیاره ووتل او زه په زمکه وغوړځېدم. زما ټول بدن رپېدو. په ما کې د درېدو دم نه ؤ. مخ مې تک سور شو او غصې نه مې په غوږونو کې شړنګارې شو او ما دا محسوس کولو لکه چي زما په وینو کې یو طوفان خوټکیږي. ما خپل سر په زوره ونیولو ځکه چي ما داسي محسوسه کوله لکه چې زما مازغه به اوس اوس وشلیږي.

" نا، نا " ما چیغې کړې؛ " داسي نه شي کېدی!"

" په زرګونو خلګو سره داسي شوي دي" زما رور ماله دا خبر راکړو؛ " ستا سره ولي نه شي کېدی؟"

د اوسه پوري خپل ځان یوه بې حده لحاظ مند او خنده ګل (مرنجا مرنج)، غیر متعصبه شان هندوګڼلو چي د چا په حلقه احباب کې د مسلمانانو اکثریت ؤ، چا چي د ننه پوري په فرقه ورانه تحریک کې، په یو داسې سماجي او سیاسي تحریک کې حصه نه وه اخیستي چي په تېرو پنځوسو کالو کې ئې د پنجاب فضا متعفنه ساتلي وي. د اوسه پوري خو ما په خپلي روشن خیالي او په آزادي باندي ډېر ناز ؤ خو چي د خپل د بچي د قتل او د خور د اغوا قیصه مي ځنګه واورېده نو لکه چي زما وینې وخوټکېدې، د لوی په شان او ما هم هغلته مسلمانانو ته کنځل شروع کړل. دا نفرت زما په زړه کې د کم ځې نه راغلې؟ د خپل احساس په شدت زه پخپله د یوې لمحې د پاره حیران شوم خو بیا د انتقام او غم او غصې د جزباتو په چپه کې زما ټول ښه خیالات لکه د خس و خاشاک وبهېدل او زه په جوش انتقام کې لیونی ودرېدم.

ما د قهره چیغه کړه " ماله چاقو راکړه. چاقو. څه چاړه راکړه. چاړه".
زما رور زما لاس ونیووو؛ " دا څه کوی؟ څه؟"
" زه به ئې ختم کړم. زه به ئې مړه کړم. زه به د یو یو مسلمان مرئي پرې کړم!" ما په زوره زوره چیغې وهلې.
" څه وشو روره؟ څه وشو په تا؟" زما رور زه کلک ونیوَلم او ووئیل. خو ما په زوره د هغه د ګرفت نه ځان خلاس کړو او په چیغو سورو او غیض و غضب مي د انتقام دهمکی ورکولې او بهر ووَتم.........
یو څو ګزه منډي چې مې ووهلي نو ودرېدم او سوچ مي وکړو. یو څو نور خلګ به هم وي، څه نور خلګ خو به هم زما هم خیال وي. ماله پکار ده چي زه هغوی ولټوم.......... ډېر زر ماته هغه خلګ ملاؤ شو. د پیپل د وني لاندي یو اوږد شان قطار جوړ ؤ زه نیزدې ورغلم یو سړي نه مي تپوس وکړو، چې ئې شلېدلی قمیص ؤ او خیرن شان پتلون ئي اغوستی ؤ؛ " دلته راشن ملاویږي؟"
هغه زلمي وخندل، و ئې وئیل؛ " هو، دلته د سیکس راشن ملاویږي!"
" څه مطلب؟"
هغه وئیل؛ " یوه مسلمانه جینۍ ام په لاس راغلي ده. مونږ د هغې بې عزتي کوو"
ما په مخامخ قطار کې ولاړ خلګ وشمارَل. زما نه مخته پنځه ویشت کسان ؤ. په لږ ساعت کې زما شاته پنځلس سړي نور راغلو او ودریدل.......

" دا قطار به د کمه پوري وي؟" ما د هغه ځوان نه تپوس وکړو.
" چي تر څو پوري هغه جينۍ مړه نه شي!" ځوان جواب راکړو.
لږ ساعت پوري خو زه په قطار کښې ولاړووم. خلګ په نمبر نمبر مخته کېدل، بيا هم قطار ډېر اوږد ؤ او د هغې جينۍ ډېري زړه شلېدونکي چيغې وهلې. په ولاړه ولاړه مي په زړه څه چل وشولکه چي زما ذړه چا په موټي کښې نيولی وي او رورو ئي مروړي. د هغې جينۍ چيغې ډېري دردناکه وې.
" اې روره زه ستا خور يم. اې روره، زه ستا خور يم".
ما خپلو دواړو غوږونو کښې ګوتي واچولې او د هغې ځي نه وتښتېدم.
هغه شلېدلي قميص والا ځوان په خپل خيرن پتلون لاس وهلو او زما طرف ته ئې وکتل په زوره ئې وخندل او وئې وئيل؛ " بزدله!"
خو ما د هغخ ځي نه منډه کړه خو په منډې کښې ما په خپل مخ ساپېړي وهلي، په ژړا ژړا مي خپل زړه واپس تلو ته مجبوره کولو. ما د منّا معصومه مخ د خپل يادونو په کټهری کښې ودرولو. ما د جذبه انتقام د پاره د خپلې خور سروج معصومه مخ سهارا اخيستل غوښتله خو هر ځل به د سروج مخ به ويلې شو او د هغې مسلمانې جينۍ په صورت کښې به بدل شو........
زما د روح په ويرانو کښې لکه چي ازلي د ښځي چيغې وې او په چيغو چيغو ئې مدد غوښتلو؛
" وَ روره........... اې روره. يا روره زه خو ستا خور يم".
په منډه منډه زه پل ته د تلو والا سړک ته نيزدي لاړم.

د مسلمانانو یوه قافله تېره شوي وه. تش یو څو خلګ پاتې شوي ؤ. سړک نه ښکته یو څو ګز په فاصله کې په کچه زمکه کې هغوئ یو قبر کنیستو. نیزدي د یو کلي وال مسلمان لاش پروت ؤ. تش بدن پروت ؤ چي پرې هغوی یوه کپړا اچولي وه. سر ئې هیچرته نه ښکارېدو. ما اخوا دېخوا وکتل. په سړک باندي یو مسلمان بوډا په دواړو لاسونو کې یو سر راخیستې ؤ او راروان ؤ هغه به په مخه خپلي اوښکې وَچولې،خپلو لاسونو کې نیولي سر ته به ئې کتل او په چیغو چیغو به ئې ژړل او وئیل به ئې؛

" زما زوی! زما زوی !!"

ټول خلګ چپ چاپ ولاړ ؤ.

" زما بس اک یو زوي ؤ فجا........"

بوډا د زمکي نه تر آسمانه پوري وکتل او وئېل ئې؛

" هر یو زوی...... زما فجا".

قبر کنیستې کېدو....... ژوَرېدو.

بوډا په اخیري ځل د خپل زوی تندې ښکل کړو........ د فجا تندی صبیح ؤ او د هغه په تندي باندي ګنګري ویښته ګډ وډ پراته ؤ. او دهغه شونډې نری نری او ډېرې ښائیسته وې او هغه پخپل خاموشه مخ کې لکه د تکش شلا په عجائب ګر کې ایښودې د بدهه د مجسمې غوندي ؤ.

قبر و کنیستې شو. د لري نې دَ ست سري کال او هر هر مها دیو نعرې راتلي. قبر کنیستونکو زرزر مړی قبر ته ورکوز کړو او د هغې د پاسه ئې خاوره اچوله. اول خو بوډا هغوی مني کول

خو چي يو دوه کسان ورته قهر شو نو بوډا په بې بسۍ دواړه لاسونه د دعا د پاره اوچت کړل.
ست سري کال ! هر هر مهاديو!
هغه خلګو زر قبر د خاورو نه ډک کړواو د هغه ځي نه وتښتېدل. صرف هغه بوډا قبر ته ناست ؤ او سورت فاتحه ئې لوَستله.
" ټول تعريفونه د الله د پاره. پروردګار د عالمونو. ښټلو والا. مالک دې د ورځ د جزا.هم ستا عبادت کوو او هم ستا نه مدد غواړو. ونښايه لاره مونږ ته سيدها(نېغا). لاره د هغوخلګو چي تا نعمت پرې وکړو.
"سوا د هغو چي پرې غضب شوی دی او نه د ګمراهانو.
الحمدلله رب العلمين.........."
ست سري اکال! هر هر مهاديو!! هوا کې برچهيانې وځلېدلې او د بوډا مسلمان بدن په ځلورو ټو ټو کې تقسيم شو. مړکېدونکي په خله اخيري نوم د خدې ؤ او د مړ کولو والا په خله هم د خدې نوم ؤ. او چيري مړ کولو والا او مړ کېدونکي والا د پاسه، ډېر لري اوچت که خدای ؤ نو بې شکه چي ډېر ستم ظريفه ؤ!
زه د هغي ځي نه هم وتښتېدم خو اوس په دې بيخي نه پوهېدم چي تښتم نو چرته به تښتم!
بله ورځ سحر زمونږ په کېمپ کې دا خبره لکه د ور په شان خوَره شوه چي د مسلمانانو يوه ډېره غټه قافله به د غرمي په پل تېريږي. خوا او شا سلوېښت پنځوس زره نفوس باندي به دا قافله مشتمله وي. دې خبَرې سره هندوان او سيکان ډېر

خوشحاله شو او د حملې په تياري کې مصروفه شو. د خوا او شا د باندېو نه جاتې هم د مدد د پاره را وغوښتل شو او زرزر انتظامات کول شروع شو.
دا خبَره خو بيخي طې وه چې د پل نگران افسربه ټوله قافله په يو ځای د تلو حکم نه ورکوي ځکه چې وخت مخکي تقسيم شوې ؤ. دوه گينټو د پاره پل د راوي نه راتلونکي هندو قافلو د پاره خلاصېدو او دوه گېنټې دې ځي نه دلته نه د مسلمانانو قافلې تېرېدلو د پاره ور کړل کېدې. داسي په نمبر نمبر دواړو اطرفو ته قافلې تېرېدې. خو قافلې به دومره اوږدې وې چي ټول خلگ په دې دوه گېنټو کې نه شو تېرېدلی. بيا دا چي په عام طور باندي د قافلې په ړومبۍ حصه کې به د مدافعت انتظام ډېر ښه ؤ خو چي څنگه څنگه به خلگ د قافلې لکۍ ته راتلل نو د مدافعتي نظام به رورو کمزوری کېدو ځکه دواړو غاړو ته چي به خلگو په قافلو حمله کوله نو د قافلې واله حصه به په خيريت سره تېرېدو ته پريښودی شوه او چي انگرېز افسر کله د پل په مينځ کې ودرېدو او د لاس په اشاره به ئې قافله ودرَوَله نو مخته والا خو به د ځان د خيريت سره زر تير شو خو چي کم به شاته پاتې شو نو د هغوی مخونه به د ويري نه سپين ؤ تښتېدل لکه چي دا ټولو ته معلومه وه چي اوس به پل دوه گېنټې پس خلاصيږي. د حمله آورو د پاره به دا دوه گېنټې غنيمت وې چي به حمله آورو د قافلې په کمزوره حصه حمله وکړه او په سينکړاو مسلمانان به ئې لوټ کړل، جوبل به ئې کړل، و به ئې وژل او بيا به ؤ تښتېدل. د راوي دواړو غاړو

ته، د پل دېخوا هم او اخوا هم د هندوانو، سیکانو، او د مسلمانانو لاشونه پراته ؤ.
د غرمي زه هم د پل نه سل ګزه لري، سړک ته نیزدې ولاړ تېرېدونکو قافلو ته مي کتل. د سړک  و دواړو اطرفو ته د هندوانو او سیکانو جنج ولاړ ؤ. څه خلګ خاموشه ولاړ ؤ، څه خلګو د سپکاوی په انداز کې فقرې ویشتلې. چي کوم کس څومره بوډا ؤ هغې هومره به ئې د قافلې مسلمانانو ته غلطې کنځلي کولې او هغوی سرونه ښکته کړي ؤ او روان ؤ........ پندونه راخیستي، ماشومان په غېږ کې نیولي، کمزورو له سهارا ورکړَي، وړو ته غصه کېدل، خپلې لوڼې خوندې د لاسونو نه نیولي......... روان ؤ. یو کمزوری نری شان هلک خپل خوا نه تېرېدو والا یو مسلمان هلک باندي لاړې تو کړې. د مسلمان هلک مخ تک سور شو هغه د بجلی په شان تیزي کې سوک جوړ کړو او د سړک نه راووتو چي پلار ونیوو او په غصه ئې د سړک نه بلې غاړې ته کړو او بیا ئې هغه هندو هلک او د هغه سره نورو ولاړو هندوانو ځوانانو ته د معذرت په انداز کې وئیل؛
" معاف ئې کړه، ماشوم دې کنه!"
هندو هلک چي اول د ویري نه شاته شوی ؤ، اوس لکه  زمری مخته راغی او په خپل نري آواز کې مسلمانانو ته کنځل کول.
د خوا او شا خلګو د هغه په بهادري باندې ډېر خوشحاله ؤ!
یو پوخ عمر هندو ووئیل؛ و ګوره د دې په دې  وخت کې ساه ووځي، چون نه کوي او د دې نه مخکې زمونږ هندوستان کې لکه د زوم ګرځېدل او جماعت مخته چي به لړه باجه وهلو

باندي به مونږ ته قهر شو او اوس چي ورته مونږ کنځل هم کوو نو څومره په خاموشۍ سره اوري او روان دي...... د دوئ........(کنځل).
ناساپه په سړک روان یو پوخ عمر مسلمان ئي نظر ولګېدو او کنځل ئې نیم په خله کې پاتې شو. هغه هغې مسلمان ته په حیرت وکتل او د حیرت او خوشحالی ګډ وډ جذباتو نه متاثره چیغه ووهله:
" وئیل ئې احمد یار!"
احمد یار په خپل سر ایښودې پنډ لږ اوچت کړو او د سړک نه باهر وکتل چي د کوم ځي نه آواز راغلی ؤ چي ئې وپېژندو نو د خوشحالی نه ئې چیغه کړه ؛ " وې ئې نتهو، د سوَر زویا، ته چرته؟؟"
احمد یار او نتهو دواړو یو بل له غېږې ور کړې او ژړل ئې. بیا معلومه شوه چي دواړه د یو کلي چمیاران ؤ. د ورکوټي والي، د هلک والي او د ځوانۍ څه حصه ئې یو ځای تېره کړي وه بیا په تلاشِ معاش کې یو چمیار لاهور ته لاړی او بل جالندهر ته.
اوس دواړو یو بل له غاړه ورکړي ؤ او ژړل ئې.
نتهو ووئیل؛ "ته زما کور ته راځه . د هغه خور چي څوک تاته په کاږه نظر وګوري!"
" نه نتهو، زه به ځم، او خامخا به ځم. اوس نه شم پاتي کېدی. ستا روښو مونږ وغورزولو".
احمد یار خپل لنګ اوچت کړو او د خپلې پنډئي زخم ئې ورته وښود و چې پرې سخا شان پټۍ تړلي وه.

" هغه خو زما نصیب ؤ چي زه بچ شوم" احمد یار ووئیل؛ " خو ظالمانو زما د مرګ هیڅ کسر نه ؤ پریښودی".
"زما هم دغه حال هلته وشو. ځوان زوی مي لاره کې ووژلی شو".
" های های........ دا په زمانې څه چل شوی دی نتهو؟ مونږ خو به په جالندهر کې هم پیزار جوړولو او په لاهور کې به هم پیزار جوړوو. بیا دا جنګ په څه خبَره شوی دی؟"
نتهو چي په هیڅ پویه نه شو نو په سر ئې لاس تېر کړو او د کنپټۍ ویښته ئې راشکَوَل اووئیل ئې؛ " د زمانې هوا خرابه ده، احمد یاره!"
" ښه زه ځم........" احمد یار زر ووئیل؛ " کني نو قافله به ووځي".
دواړه ملګرو په اخیري ځل یو بل ته تر غاړه وتَل. چي احمد یار مخته لاړو نو شاته نه نتهو په زوره چیغه کړه؛ " د جګ بختیار خان تره عبدالغني ته زما سلام وایه!"
د لرې نه " ښه! ښه!" احمد یار ووئیل او په قافلې کې ورک شو.
 چي نتهو چي خپلو ملګرو سره د خبَرو نه پس راستون شو نو د خواو شا هندوانو هغه ته په داسي نظر کتل لکه چي لعنت پرې کوي. د نتهو په مخ یو دشرمندګي شان مسکان راغلو. هغه د خپل بچاؤ دپاره څه وئیل غوښتل خو د ځان سره ئې څه غور غور وکړو او زر ئې سر ښکته کړو او د هغې ځي نه زر لرې شو.

هغه وخت چي زما په زړه کې څه راغل، چي ما یو ګام واخیستواو قافلې ته ور دننه شوم او د مسلمانانو سره سره روان شوم. صرف یو سړي ماته وکتل او راته ئې ووئیل:

" ته دلته څنګه؟"

ما فوراوئیل؛ " دې ځي پوري هندو جوړ شوې وم او راغلم، اوس خپل وطن ته ځم......... پاکستان!"

" الحمدالله!" هغه مسلمان په مسکا ووئیل. د هغه شک لري شو. او که نه وای هم لرې شوی نو زما هیڅ پروا نه وه. زه ډېر په دلبرۍ سره دوه سوه ګزه فاصلې پورې یعني د پله پوري خو تلی شوم. د پوله پوري خو ماته هیڅ قسمه ویره نه وه. د قافلې دواړو طرف ته هندوان او سیکان ولاړ ۇ. په پل د انګریزانو فوج ۇ. د پوله پورې خو هر هندو زمری ۇ او د یو لک مسلمانانو نه سېوا ۇ ځکه زه بې خطَره په قافلې کې د هغوی سره تلَم.

ما ګس لاس ته ځان ته یو نیزدي یو بوډا نه تپوس وکړو! " بابا ته د کوم ځي نه راغلی ئې؟"

" د مورنډې نه راغلې یم زویا"

" ستا خاندان چرته دی، بابا؟"

بوډا ووئیل! " په قبر کې!"

زه چپ شوم. د بوډا په مخ یو رنګ تلو بل راتلو. اخیر ډېر په ګرانه هغه په خپلو جذباتو قابو واچوو او و ئې وئیل؛ " د مورنډې سیکانو زما درې واړه لوڼي واخیستې او زما درې واړه زامن ئې ووژل. که هغوی زه او زما بوډۍ هم وژلي وای نو په مونږ دواړو به ئې غټ احسان کړی وای!"

د بوډا نروچکي ښځه خپلو سپینو بتّرو ویښتو سره د هغه سره روانه وه. هغې د یو عجیبه شان مسکان سره خپل خاوند ته وکتل او په خله ئې ګوّته کیښودله، وئیل ئې؛ " شش شور مه کوه زما زوی به راویښ شي!"
" زوی؟" ما تپوس وکړو.
" او" هغه ماته را ټیټه شوه او په رازدارانه لهجه کې راته ووئیل؛ " زه حامله یم کنه. حامله. زما خېټه کې زما زوی دی!" یو دم هغه زما نه لرې شوه او نېغا ودریده او په زوره زوره ئې خپله خېټه وهل شروع کړه. " زه حامله یم. زه حامله یم. زه حامله......"
د هغې د خندا چیغې زما نه برداشت نه شوې. زه هم هغلته ولاړ پاتې شوم. بوډا مسلمان خپله لیونۍ ښځه په راښکلو راښکلو مخته بوتله. اوس زه بیا د قافلې سره روان وم. ګوره چي زما په زړه کې څه خبّره وه؟ ما څه غوښتل؟ زه ولي د هغه خلګو سره روان وم؟ ماته پخپله هم معلومه نه وه خو زه د هغې قافلې نه لرې هم نه شوم پاتې کېدی.
دي ځل ته ما سره  د یو خوشحاله او مهذبه مسلمانانو خاندان روان ؤ. د شکل  و شباهت، د اطوار نه، خبّرو اتّرو نه، چال ډهال نه دا خلګ پړها لکها او مهذبه ښکارېدل. ګو چې د هغوی جامې خیرّني وې خو اعلا قسم کپړا ښکارېده. د اته او د لسو کالو دوه ماشومانو ګګرې اغوستي وې. یو د څوارلسو کالو هلک ؤ چې  په مخ ئې د خط آغاز شوی ؤ. هلک د ودي لکیرو شرټ اود ودي او تورړنګ نیکر اچولی ؤ. هغه خپلي دواړه

خویندې سمبالې کړي وې او روان ؤ. د هغوی پلار د خپلې ښځې لاس نیولې ؤ چي برقع ئې اچوَلي وه.
هغه مسلمان د خوشحالی نه ماته وکتل او وئیل؛ " د خداې شکر دی چي مونږ اوس پاکستان ته را وَرَسیدو!"
" په لاره کې خیریت ؤ؟" ما تپوس وکړو.
" د هغې پاک پروردګار لاک لاک شکر دی چي زمونږ څه ځاني نقصان و نه شو. په دوه ګېنټو کې به مونږ پاکستان کې یو. هغه دی مخامخ دی زمونږ نوی وطن!"
د یو عجیبه غرور او مسرت نه د هغوی مخونه ماته سرشاره او مسروره ښکاره شول لکه چي د بوډۍ د ټال ټول رنګونه د هغوی په مخ ښکاره شوَل! د هغوی ګامونه د پل طرف ته نور هم تېز شو.
ما خپل چال رو کړو او هغوی مخته لاړل.
اوس زما سره یوه جینۍ روانه وه، یو دم ماته محسوسه شوه لکه چي په ټوله قافله هغه هم زما په شان یواځې وي. ما د هغې مخ ته په غور وکتل او ورته مي ووئیل؛ " ته هندو ئې کنه؟"
زما په خبره هغه حیرانه شوه او رورو تلل ئې شروع کړل. هغې زما د خبَري څه جواب را نه کړوخو د هغي په د بدلېدونکو جذباتو نه زه پویه شوم چي زما غشې په نښې ولګېدو.
په ونې وړَه، زیږ وېښته،سپین اننګي، سپینه ذنه، د ګلاب د رنګ نري شونډې، پسته ملا، ډکه سینه، په ګرځېدلو کې یو فخر او حسن، مظبوطي او بې نیازي، د غوَګونو والو ئې ټالۍ وهلې، د سترګو ګاټې ئې په یو دردناکه خوب کې ګرفتاره.

" ته څوک ئې؟"
" زه پاروتي يم"
" د کوم ځي نه راغلي ئې؟"
" د چيمه کلان نه"
چرته ځې؟"
" پاکستان! "
" پاروتي ته پاکستان ته ولې ځې؟"
" هغه زما د محبوب وطن دی"
" ستا محبوب؟"
" هغه زما د کلي اوسېدونکی ؤ. امتياز ئې نوم ؤ. د هغه پلار زمونږ د کلي يو ډېر لوئي زميندار ؤ او يو کټر مسلم ليګي ؤ. زما پلار د کلي ټولو نه غټ سيټ ؤ او کټر آريه سماجي ؤ خو امتياز زما سره مينه کوله او ما د هغه سره. مونږ دواړو يو ځای سبق وې. ايم اې کې ......
" پاکستان چي جوړ شو نو د امتياز مور او پلار خپل ټول خاندان سره په هوائي جهاز کې لاهور ته لاړه خو امتياز لا نه ړو. د هغه مور او پلار هغه ډېر پويه کړو خو هغه و نه منل. هغه د خپلې پارو د پاره خپل خوږ وطن پرېښودو ولي چي ما ورسره د واده کولو وعده کړې وه.
" بيا؟"
د ټيټ سر او خاموشۍ سره د ډېره ساعته پورې هغه زما سره روانه وه. اخيره کې رو شان وئيل؛ " د واده نه مخکي زما پلار هغه په چا ووژلو! زما امتياز ئې په هندوانو بدمعاشانو ووژلو، امتياز چا چي په مونږ بهروسه کړي وه........ زما امتياز ډېر

ښائیسته، ځوان او تکړا ؤ خو هغه یواځی ؤ او هغوی ډېر خلگ ؤ خو چې زه هلته ورسیدم نو د هغه لاش ټپوسانو خوَړو" سترگو کې ئې یوه اوښکه نه وه، په شونډو ئې یو رپ نه ؤ، په سټ کې ئې یو خم نه ؤ....... هغه سیدها او نېغا روانه وه، یوه عجیبه شان جینۍ.

" هون!" ما په سوچ کې ډوب وئیل؛ " امتیاز خو مړ شو اوس به ته پاکستان کې څه وکړي؟"

" زه به د هغه د مور سره د هغه د کوَنډې په شان اوسم!" پاروتي ډېر په فخر وئیل.

ما ډېر په حیرت سره هغې ته وکتل. یو دم پل نیزدې راغلی. پاروتي په پل یوه پښه کېښوده؛

" پاروتي چرته ځې؟ واپس راشه، معصومې بې وقوفې جینۍ! چا محض د یو تصور په خاطر خپل وطن قربان کړی دی؟ ښځه د خپل خاوند د پاره مړه کیږي. خور د خپل رور د پاره قربانه شي. دا ټولې رشتې خو د پوهې دي، د ویني او د بدن رشتې دي، خو تا خو د چا سره داسي رشته نه وه تړَلي، تا خو د امتیاز سره واده نه ؤ کړی، ته خو د هغه کوَنډه هم نه ئې. ستا لړمون کې خو د هغه بچې هم نشته. ته د هغه د خاندان، ملک او د مذهب هم نه ئې. بیا ته مونږ ټول پرېږدې نو چرته ځې؟ د خپل د تصور سره ښتې ته کوم منزل ته روانه ئې؟ لیونۍ! چرته دې دنیا کې څوک د میني د پاره داسي هم مړه کیږي؟ خلگ خو مړه کیږي د پیسو د پاره؛ د ښځې د بدن د پاره؛ دولت د پاره؛ طاقت د پاره؛ ملک د پاره، مذهب د پاره؛ آخرت د پاره؛ خو محض د یو تصور د پاره مړه کېدل او ټول

ژوند د چا په یاد کې په یو اجنبي ماحول کې تیرَوَل! لږ سوچ وکړه پاروتي، څومره غټه احمقانه خبَرَه ده! واپس راشه".
لکه د سپوږمۍ په شان پاروتي، خپله سوګواره خو لکه د ګل په شان خوشبوداره شادابه حسن ته وګوره. د دې کتونکو هندوانو نظر باندي رحم وکړه او واپس راشه بیا مونږ رو رو ستا د زړه نه د امتیاز یاد وران کړو. مونږ چي ستا د دهرم یو، ستا د ملک او مذهب یو. ستا د سوسائېټي او د سماج یو. مونږ، چي د نیکۍ او د بدۍ اخیري جاج اخیستونکي والا یو. مونږ به رورو تا د خپل مانوسه ماحول په ګیرې کوي راولو. رو رو په خوَړه پسته کې، په نر دباؤ سره، په دم دلاسې سره به مونږ تا په لاره راولو. مونږ به تا د دې د پاره تیاره کړو چي ته رو رو اخوا دېخوا کتل شروع کړې، ګوري به او موسکۍ به شې، او چي موسکۍ شې نو په خندا به شي.
رو رو ، ډېر رو رو به مونږ تا په مینې هغه ور ته نیزدې را وَلو چي ته ترې اووه څله تاؤ شې نو بېخي به د یو بل نا آشنا کس شي او د هغه سره به په ډولۍ کې کېني او په خوشحالۍ سره به خپلې سخر ګنۍ کره لاړه شې. مونږ هم دغه شان کړي دي. د زرګونو کالو نه مو داسې کړي دي...... زمونږ په شان ډېره مینه ښښتَولو والا به تاته هیچرته نه ملاویږي!
" واپس راشه. پاروتي......... واپس راشه"
خو پاروتي یو ځل هم ماته و نه کتل. هغه نېغا په پل تیره شوه. سر و قد او پر غروره، او چي هغه نیم پل نه واوړېده نو یو دم انګرېز افسر رامخته شو او د پل په میانځ کې ودریدو او لاره ئې بنده کړه.

# نهم باب

چي د پل نه هغې غاړي ته لاړه هغوی خوشحاله ؤ او چي کوم دې خوا پاتې شو په هغوی باندي یو خوف طاري ؤ او هغوی په مخه اخوا دېخوا او د ځان نه مخته او شاته ئې کتل. د هغې خوشحاله مسلمانې کورنۍ هلک خپلو دواړو خوندو سره بلې غاړې ته لاړی خو په عین موقع انګریز مینځ ته راغلی او لاره ئې بنده کړه، او د هغو ؤړو مسلمان پلار او د هغوی مور دلته پاتي شو. مسلمان پلار ډېر فریاد وکړو؛ " وئیل وګوری زما بچي هلته دي.بس ما او زما ښځه اوړېدو ته پرېږده. پلیز کمانډر صاحب!'

خو انګریز کمانډر و نه منل. نا چاره دواړه ښځه او خاوند د پل نه یو طرف ته ودرېدل او خپلو بچو ته ئې د حسرت په نظر کتل، خو انګریز افسر هغوی د پل سره هم پرې نه ښودل. اوس د هغې غاړي نه د هندوانو قافله راتلو والا وه ځکه هغه د مهاجرو نه پل خالي کړو او خلګ ئې شاته دیکه کړل. دواړه ښځه او خاوند د نورو مهاجرو سره د پل نه بهر سړک باندي یو طرف ته ودریدل. هغه شریف مسلمان به په مخه پښه په زمکه وهله او وئیل به ئې؛ " دا څنګه حماقت دی؟ څنګه حماقت...... یو خاندان ئې داسي د لاس په یوې اشاره په دوه ټکړو کې تقسیم کړل. هغه فوجي افسر که مونږ دواړه پرېښودی وی نو د هغه به څه کم شوي وای!"

د هغه ښځې هغه پویه کولو؛ " صبر وکړه، اوس دوه ګېنټې پس به بیا دا پل مونږ له خلاس شي!"

تسلي ئې خو خپل خاوند له ورکړه خود دواړو زړونه د خپلو بچو د پاره خوف زده ؤ په مخه به پنجو ودریدل او دپل نه به هغې غاړې ته کتل چي چرته د هغوی بچي ولاړ ؤ.

اوس د هغې ځي نه هندوانو قافله راروانه وه. پل نه اوړېدلو والا قافلې سړک ته راغله. د سړک غاړې غاړې ته مهاجر ولاړ ؤ او لوټ زوی شرناتهیانو ته ئې کتل. شرناتهیان تېرېدل او تباه شوي مهاجرو ته ئې کتل او د دواړو سترګو کې هم دا یو سوال ؤ او هم هغه یو جواب ؤ. په کتو کتو کې به د نظر هغه سخت نفرت به  د یو ژوَر جرم د احساس سره به بوجهله شو او دواړو به د یو بل د نظر نه ځان بچ کولو او اخوا دېخوا به ئې کتل شروع کړل، لکه چي څوک هم په هغه تلخ حقیقت سترګې نه شي لګولی.

زه د مهاجرو د ګڼې نه د شرناتهیانو قافلې ته راغلم او اوس د هغوی سره مخالفه ډډې ته روان شوم، خو ماته بېخي دا احساس و نه شو چي ما سمت بدل کړو.

 داسي ښکاره کېدل لکه چي زه هم په هغه قافلې کې روان یم!

لږ ساعت پس ماته په هغه قافلې کې د خپل خاندان ډېر کسان ملاؤ شو. دوه تربوره، یو تره، یو د ترور خاوند او یو څو بوډۍ ښځې. او دې ټولو خلګو زما پلار په کټ کې اچَولی ؤاو

راروان ؤ چي هغه اوس اوس د پل نه هغې غاړې ته په میدان
کې د حمله آورو په مقابله کې مړ شو!

# لسم باب

د پلار په لاش ئې یوه کپړا اچولي وه او یو غوټ کې پروت ؤ. خلګ په ژړا ژړا چپ شوي ؤ او ښځي د ماښام ډوډی پخولو کې مصروفه وې. په داسي موقعو به اکثره د کلي د نورو کورونو نه ډوډی راتله، خو دا خو کیمپ ؤ. دلته خو د هر چا سره خپل غم ؤ. چا به د چا څه مدد کړی وای، ټول وږي تږي ؤ. رور مې د چتا انتظام له تللی ؤ.زه د یو جانګړ کټ په سهارا د پښو په سر ناست وم. چې په دې کې یو څو هندوان او سیکان رضاکاران راغل. د هغوی مشر د لاهور مشهوره هندو پهلوان بلّو ؤ.
بلّو په یوې سترګې ړوند ؤاو بله ئې د پشو د سترګې په شان وه. ټولو خلګو به ورته بلّو وئیل. بلّو په لاهوري ګېټ کې دننه د مدي شاه په ځي کې د هندوانو پهلوانانو یوه غوَنډه تیاره کړې وه اود هندو رئیسانو خلګو په وینا به ئې په فرقه ورانه فساد کې د هندوانو په د طرف نه جنګ کولو. بلّو لاهور کې دوه درې ځله ماله هم چندې له راغلې ؤ خو ما چرته هم نه وې ورکړي. ځکه چي هغه ماته اوس وکتل نود هغه په پُرغروره لهجه کې یو عجیبه شان د سپکاوی جهلک نمودار شو.
بلّو ووئیل؛ " اوس لږ ساعت کې مونږ په مهاجرو حمله کوَلو والا یو. ماښام شو. دوه حصې قافله تېره شوي ده، بس اوس ئې لکۍ پاتې ده. دا وخت د حملې د پاره ښخي ټیک دی!"
ما ورته ووئیل؛ " حمله وکړۍ، زما پې څه؟"
" او! او! ستا پې څه؟" بلّو لږه په سخته لهجه کې ووئیل؛ "هم دغه شان بزدله هندوانو پاکستان جوړ کړی دی. د دوی چي پلار مړ شي نو هم به وائي زمونږ ه ئې څه!"

زه د کټ سره د پښو په سر ناست وم. يو دم د غصې نه د بلّو مخته نېغ ودرېدم. بلّو د کامل اطمنان سره ماته وکتل او و ئې وئيل؛ " د حملې د پاره مونږد هر يو کور نه يو يو حمله آور اخلو. په نيمه ګېنټه کې راشن ډپو ته راشه.....د نېزو، ټوپکو اود اسپو ټول انتظام شوی دی!" څلورو واړو طرف ته تېره نظر په ما ښښښ ؤ.
ما غاښونه وچيچل او ورته مي ووئيل؛ ' زه به درشم!" بلّو وخندل او لاړی.
د هغه خندا زما نه برداشت نه شوه. زه هم په هغه وخت په هغه پسې شاته شاته لاړم. د هر کور او د هر خاندان نه مونږ يو يو دوه دوه سړي واخيستل. چي څنګه څنګه د حمله آورو تعداد ډېرېدو؛ د لهجو سختي او د نظر قهر هم ډېريدو. د لاسونو ګوَتې بېتابه کېدې. د خلګو مخونو لکه چي اور اخيستې ؤ. او مونږ چي کله راشن ډپو ته ورسېدو نو هلته د مخکې نه د پنځو سو سړو جنج په چيغو چغارو ؤ. د مسلمانانو خلاف ئې اشتعال انګيز نعرې وهلې.
زه هم د هغوی سره روان وم خو ماته داسي ښکارېدل لکه چي زه په خوب کې روان يم، زما نه اخوا دېخوا چي څومره انسانان ؤد يو بهيانک خوب سوري ښکاريدل. راشن ډپو سره نيزدې هندو ځوانانو بلّم او نېزې تقسيمولې. ټوپکې صرف مشرانو له ورکړي شوي وې. چا زما په لاس کې يوه نېزه راکړه، ما ونيوله. چا ووئيل؛ " هغه ستا اس دی" زه د نېزې سره په اس کښېنستم.
مونږ چې ډکي موړ ته ورسېدو، چې چرته د برګد يوه غټه ونه وه، د مسلمانانو په قافله مو حمله وکړه. ست سري اکال او هر هر مهاديو د نعرو سره په فضا کې د مهاجرو چيغې سوري شوې. د مهاجرو د قافلو خلګو سرک پريښودواو شګن ميدان ته ئې منډې کړې. څه ځوانانو مسلمانانو ډېر د بهادری او د

نرتوب او د الله اکبر د نعرو سره مدافعت کولو خو حمله آورو د ډکی موږ سره لاره کټ کړه او مهاجر ئې د سړک نه کوز کړل او د ډکی مشهوره شګن میدان په ګېره کې ئې واخیستل چې کم ځي کې مخکې هم د لکونو مسلمانانو سټونه پرېکړې شوي ؤ.
زما څلورو واړو طرف ته مشعلې بلېدلې او څلورو واړو طرف ته سخت جنګ ؤ.او ما نیزه نیولي،اس په منډه کړی اخوا دېخوا د ښکار په تلاش کې ګرځېدم. مخامخ یو بوډا ورکوټې ماشوم خپلې سینې ته جوخت نیولې ؤ او منډې ئې وهلې.
د هغه خیرن بنین ځي په ځي شلېدلېی ؤ او یو سلېټي رنګ یو خیرن لنګ ئې تړلی ؤ. هغه منډې وهلي او په شاشا ئې کتل. ماشوم د ویري نه چیغې وهلې. د هغه واړه واړه لاسونه د بوډا نه تاو شوي ؤ. په منډه کې بوډا تیندک وخوړو او د هغه پنډوکی په زمکي وغوَرځېدو، او چي هغه وچتولو د پاره هغه راستون شو نو ما په تیزۍ سره اسپه په منډه کړه او نېزه مې د هغه په سینه کېښوده.
بوډا هغه پنډ هم هغلته په زمکي پرېښودو، لاس ئې لږ د سینې اوچت شو او ډېر ملتجیانه نظر ئې ماته وکتل او لاس ئې د انکار په انداز وخوَزولو او ووئیل؛ " نه ! نه! زویا. نه ما مه مړه کوه!"
بس د هغې یوې لمحې تصویر زما په سترګو ته کیږي. د هغه بوډا خله د خوف نه خلاصه وه او اوچت لاس ئې د ویري او التجا نه رپېدو او د شلېدلي بنین نه ئې سینه ښکارېده. چي کوم ځي کې زما نېزه د هغه د سینې سره لګېدلي وه هلته سپین سپین وېښته ؤ، ډېر ښکلي سپین سپین وېښته، څنګې چي زما د پلار په سینه ؤ، د هغه بوډا وریځي هم سپینې وې، څنګه چي زما د پلار وې. او چي څنګه په نرمۍ او شفقت او التجا هغه ماته ووئیل؛ "نه! نه! زویا نه!

ما مه مړ کوه!" په هغه لهجه هم ماته خپل پلار را یاد شو او یو دم زما په سترګو کې اوښکې راغلې. زه د هغه د سینې نه نېزه لرې کولو والا وم چې د شاته نه یو کرخت آواز راغلی؛ " اې سپیا برهمنه ته به څه جنګ وکړې، لرې شه! غدّاره!" دې سره بلّو په خپلې توري اسپې ناست تیزۍ سره مخته راغلواو په بلّم ئې د هغه بوډا مسلمان سینه وشلَوله او مخته لاړو.
یو دم ما هغه مسلمان د توري اسپې په پښو کې په غورځېدلو ولیدواو هغه ورکوټې ماشوم مې په سرکونډو سرکونډو په یو کډي کې په پرېوتو ولیدو. بیا په سینکړاو حمله آوروقدَمونو هغه زمکه وزېّله او زما سترګو کې دومره اوښکې راغلي چې مخته هیڅ و نه لیدل. په آس ناست ناست زما ټول بدن په رپېدو شو، او زما ذهن او زما بدن او روح کې دیوې کرَکې شان احساس ډېر شو.
یو دم ما د لاس نه نیزه په زوره لرې وغورزوله او اس مې په منډه کو او د ټیټ سر سره د مقتل نه راووتم.
په اورېدو کې راله چې څلور پنځه ګېنټو پس د فوج کمک هلته ور ورسېدو خو د هغې پوري حمله آوروخپل کار کړې ؤ او تښتېدلی ؤاو د ډکې په میدان کې په زرګونو مسلمانان قتل شوي ؤ!

# يولسم باب

په هغه شپه ماله بيخي خوب را نغلی. چي خوب به راغلی نو هم د يو څو لمحو د پاره، او په هغي څو لمحو کې به ما کله د خپل پلار مخ لېدو. کله د مسلمان بو ډا سينه په بلّم څيري او په يوه جټکې به زما نه خوب وتښتېدو. بيا د نا وخته پوري ډېري په ډېري اوړېدم چي سترګې مي خوَړې شان شوې نوما شادان ولېده چي په خوَرو زلفو کې په چيغو چيغو د نلونو ځنګل ته منډې وهي او د نلونو په ځنګل کې اور بل ؤ. بيا مي خوب وتښتېدو. د ډېر وخته پوري اوړېدم را اوړېدم چي نيمه شپه هم تېره شوه او سترګو له مي خوب را نغلې او نه اوښکې نو د زمکې نه پاسېدم او بهر لاړم. اوس لا د سحر رڼا هم نه وه لګېدلي. څلورو واړو ډډو ته تکه توره تياره وه، صرف د آسمان او زمکې تقسيمَولو والا سپينه رڼا راښکاره شوې وه چي د راتلونکي سحر پته ئې ورکوله. زه د هغې رڼا په ډاډ د کېمپ نه راووتم. رو رو ګامونه مي د ډکي مېدان طرف ته واخيستل، ما هغې ډډې ته تلل نه غوښتل خو يو طاقت ؤ چي زه ئې هغې ډډي ته راښکلم. په تلو تلوکې تياره په کمېدو وه. رڼا خو نه وه خو د لرې تيارې او د زياتي تيارې فرق ډېرېدو. دا معلومېدل چي دا کډې دې، دا کنده ده، دا به خټې وي،هغه به د وَنو بڼ وي، پيکه پيکه شان خور شوی سوری ساه نيولې لکه چي د رڼا په تمع ؤ. زما په پښو کې يوه سويه د ويري نه وتښتېده او لري د يو خټې په سوري کوی نتَوته...... د يوې لمحې د پاره زه شوم او ودرېدم. بيا مي حواس جمع کړل او مخته لاړم. مخامخ موړ باندي د برګد يوه ونه وه، ژوره تکه توره تياره........ لکه چي د دې سياهي هيڅ کناره نه وي.........

چي تاو شوم او د برګد د ونې نه تېر شوم نو مخامخ د ډک مېدان ښکاره کېدو....... يو څه ځه ځايونو کې سنتري څوکی ورکوله........ .
اوس راغلې. هغه وخت چرته وې چې ژوند درته په ثغو چيغو نعرې وهلې؟"
سنتري راته آواز کړو؛ " هالټ!"
زه ودرېدم.
سنتري ماته را نيزدې شو او راته ئې وکتل او په کرخې لهجې کې ئې راته ووئيل؛
" څوک ئې؟"
" هندو يم!"
" دلته ولې راغلې ئې؟"
زما د خلې نه بې اختياره ووتل؛ " زما ټوپک دلته ورک شوی، هغې له دلته راغلې يم"
د سنتري په مخ يو مسکان نمودار شو. هغه سر وخوزولو او ووئيل؛ " ورشه وګوره...."
زه د ډکي مېدان ته ور داخل شوم.
زما څلورو واړو طرف ته تش لاشونه پراته ؤ؛ " د بوډاګانو لاشونه، د ځوانانو لاشونه، د ښځو لاشونه، د وړو لاشونه، پړ مخي پراته لاشونه، سيدها لاشونه، د پښو په سر ناست لاشونه، لاشونه چي بدن ئې لغړ ؤ، لاشونه چي لاسونه ئې اکړاو ؤ، لاشونه چي سترګې ئې خلاصي وې، لاشونه چي سترګې ئې بندې وې، لاشونه چي په لاسو کې د پيو بوتلې وې؛ لاشونه چي د ژوند ټول زهر ئې اوڅښل او اوس دتل د پاره وده شوي دي. د لري نه د يو ماشوم د ژړا آواز راروان ؤ .
زما قدم زه بې اختياره د هغي ماشوم طرف ته په هغي آواز پسې بوتلم، په غورځېدو، په تيندکونه خوَړو، د لاشونو نه مي دانګل، د چا په پښې او د چا په سر مي پښه ايښوده، چي زه

آواز ته ورسېدم نو څه ګورم چې څلورو واړو طرف ته د لاشونو يو انبار لګېدلې ؤاو دهغوی مينځ کې يو ماشوم په دواړه لاسونه په خپلو سترګو ايښي ؤ او په ژړا ژړا ئې وئيل؛ "بابا........ بابا........ بابا زه وَړی شوی يم. بابا....... زما بابا.......". بابا د ماشوم سره نيزدې مړ پروت ؤاو د هغه د سپينو وېښتو سينه کې د بلَم يو ژوَر پرهر ؤ.... يو تاريک ژوَر تور پرهر....... او د پرهر نه اخوا دېخوا په سينه وينه لکه د انسان د نفرت په شان منجمده وه. لږ ساعته پوره خو چپ ولاړ وم او هغه ماشوم ته مي کتل چي ژړل ئې او هغه ماته کتل. ماشوم په ژړا ژړا چپ شو. او اوس مونږ دواړو چپ چاپ يو بل ته کتل. نا آشنا، ناواقف، بې ګانه، لاشونو کې ورَک، او په مونږ دواړو کې څومره لوئې فاصلې وې. څومره ژور سمندر، څومره اوچت فصيلونه، مونږ دواړو يو بل ته يو ناآشنا په نه پوهېدونکو حيرت سره يو بل ته کتل. ماشوم ما ته وکتل بيائې اخوا دېخواوکتل او بيا ئې چي په مازغو کې هيڅ رانغله نو سر ئې ښکته کړواو خپله وړه شان ګوته ئې خله کې واچوله او په رو رو ئې چوپل شروع کړه!

او چي بيا ئې ګوته چوپلو چوپلو کې يکبارګي ماته په معصومه نظر وکتل نو لکه چي چا زما د زړه وائيلن چيړلی وي. د هغې شپې د خاموشۍ هره زرّه ګويا شوه او په چيغو چيغو ئې فرياد کوو. او اووه سمندره، اووه تهذيبونه، اووه فصيلونو باندي پښې ايښودې او تري ودنګل اود هغې ماشوم وړي تږي بې قراره روح ماله راغله او دومره جوښته زما په زړه پوري و نښته لکه چي دا همېشه نه د دې حصه وي او زما لاسونه بې اختياره هغي ماشوم ته اوچت شو. ما هغه د لاشونو د انبار نه را اوچت کړواو په زوره مي د خپلې سينې سره را جوخت کړو او په ژړا مي د هغه مخ ښکلَوَلواو چي هغه مسلمان ماشوم د سلګو سره ماله غاړه راکړه، او چي د هغه واړه واړه لاسونه

زما په سینه ګرځېدل نو ماته داسي محسوسه شوه لکه چي زما د انتقام ټول اور سوړ شو. زما د زړه ټول غم لاړی، زما ټول نفرتونه ووینزلي شو. زما د روح ټول سوی او تلخي ختمه شوه. هغه لمحه ماته داسي محسوسه شوه لکه چي ماته خپل ماشوم واپس ملاؤ شو .
ما هغه ماشومپه غېږ کړی ؤ او څلورو واړو طرف ته مي کتل او زما څلورو واړو طرف ته تش لاشونه ؤ .
او ما د ځان نه تپوس وکړو؛ ولې مونږد اوچت سرونو سرَه ګرځو؟ او ولې مونږ د برتر تهذیب چیغې وهو؟ او ولې مونږ د خپل جرم د اقبال کولو نه قاصره یو؟ دې نا مکمله، نا پخته تهذیبونوپه خپل دامن کې څومره ژوَري تیارې پټې کړي دي. دا هندو تهذیب او مسلم تهذیب، عیسائي تهذیب او سیک تهذیب، یورپي تهذیب او ایشیائي تهذیب.......دې ځلېدلي تهذیبونو کې څومره ژوَر کډي، څومره خوفناکه تیاري ډکې دي خو هغوی څه وائي نه. چي شپه ورځ د دې تهذیبونو چیغې وهي، هغوی وائي...... او چي کوم څه هغوی وائي هغه ډېر زیات ښائیسته، پرشکوه او شانداره وي. او که چرته جرات وکړي او د تهذیب خوشنما قبا لري کړي او کتل غواړي نو هغه ته غدار ووئیل شي او قتل کړی شي یا د هغه په ملا کې بلم( هتهیار) ښښ کړل شي.
خو اوس ماته د چا ویره نشته. په هغي لاشونو د پاسه ګرځېدلو کې ماته محسوسه شوه چي ماته اوس د هیچا ویره نشته. لکه چي ډېره عرصه شوي ده چي ما خپل سر پخپله کټ کړې او غورځولې مې دی. اوس به ماته د شاهراو په ظلم حیرت نه وي. زما غوَږونه به په هغي آواز دهوکه نه خوري چي د مخمل په جوف کې یو زهریلا خنجر پټ کړی وي. اوس به زه د هیچا ګناه نه بوی کوم. په دې لاشونو د پاسه تلو تلو کې ما د خپل سماج اصول او مقصد ولټولو نو زما د لاسونو

ټوله شګه وبهېده. ټولي زېړې پاڼې هوا کې خوَرې شوې او ما هغي ماشوم له غاړه ورکړه او خپلو زَړو رسم ورواج غليظه ډيران ته مي اور واچولو. په تلو تلو کې ماته داسي محسوسه شوه لکه چي اوس زه ډېر مطمئينه يم او څوک زما هيڅ نشي کولې ځکه چي زه يو سر بريده انسان يم چي چاته بس د يوې شنې پاڼي تلاش دې!

مېدان نه چي را ووتم نو څوکېدار راته بيا آواز کړو. ما ورته ووئيل؛ " ماته ټوپک ملاؤ نه شو"

" نو تا دا ماشوم ولې راوړو؟" څوکېدار تپوس وکړو. د هغه په لهجه کې تلخي او سختي وه، لکه چي زما دا حرکت ئې خوښ نه شو .

" دا ژوندی دی!" ما ورته ووئيل .

" ژوندی وي که مړ تاته د دې ماشومد راخيستو هيڅ حق نيشته. دا هم هغلته پرېږده" .

" خو زه دا مړ کول غواړم". ما څوکېدار ته سترګه ووهله، " دا د مار بچی دی ولي دې ژوندی وي!"

د څوکېدار په مخ د شک و شبهه آثار راغله، په رو رو ئې ووئيل؛ " ته به رښتيا دا مړ کي؟"

ما ورته ووئيل؛' وئيل زه خو به د ده غوَښي جدا کړم، دواړو پښو نه به ئې وشلوم او سيند ته به ئې لاهو کړم" ما بيا څوکېدار ته سترګه ووهله .

څوکېدار لږ شان مسکې شو لږ ساعت پس ئې ووئيل؛ " ته دا بوتلی شې"

ماشوم په زوره زوره ژړا شروع کړه. ما ماشوم په غيږ کې او غبږ ګامونه مي واخيستل او روان شوم. يو دم څوکېدار شاته نه چيغه کړه .

' ودرېږه!" خو ما هيڅ وا نه ورېدل. ما خپل چال تيز کړو او تېزه مې منډه کړه. اچانک د ډز آواز راغلی او ګولۍ زما د پښو

سره دوړي والوزولې او تېرا شوه. ما منډه ووهله او په منډه منډه د يو خټ شاته پټ شوم او خپل زخم مي وکتوچي تري وينې روانې وې .
په راوي سحر شو .
او زه د سيند غاړي ته ناست ماشوم مي غېږ کې ؤ سوچ مي کوړ؛
" اوس به ته چرته ځې بيچ نات؟ ظلم او تشدد،فطرت او تعصب د کول طوفان چي زه د هلته نه راوتښتېدم هغه خو دلته هم دی. او ته، چي اوس د دې دواړو تهذيبونوغدّار ئې، ته به د دې نه چرته بچ کېږې؟ته خو اوس نه د هندوستان شوې او نه د پاکستان. چي تاله په دي دواړو ملکونو کې نفرتونه اجنبي شو نو بيا به ته د دې انسانيت نه خالي، لق و دق ويرانه دنيا کې دې ماشوم سره چرته خپله ټهکانه جوړه کړې؟ هير کړه هغه ټولي د تصور خبري او پرېږده دا ماشوم د دې طوفان په څپو کې. او واپس لاړ شه خپل کور ته او خپل خاندان له؛ قام او ملک، سماج او د هغي تهذيب کې اوس هغه زمکه ستا پاتي نه شوه . ، اوس دا زمکه ستا زمکه ده .
وی څنګه ووايم چي هغه دېس زما دېس نه دی چې د هغې خاورې يوه يوه زرّه زما په زره کې لکه د هيرې په شان روښانه ده! او څنګه ووايم چي دا دېس زما دېس دی، چي چرته زما ډېر شه احساسات اجنبي دي. ماته خو د راوي دې غاړې کې او هغي غاړې هيڅ فرق نه ښکاري. د سيند دواړو غاړو ته د شګو چمان ؤ او دواړو غاړو ته لاشونه پراته ؤ او مينځ کې د راوي هغه اوبه بهيږي چي په دې زمکه د هندوانو او د مسلمانانود راتلو نه مخکې بهېدلي! .
او زما په زړه کې د هغه زمانې ياد راغلی چي کومه راتلونکي زمانه ده. چي هندوستان به وي خو هندوستان به نه وي او چي پاکستان به وي خو پاکستان به نه وي؛ څوک ايران به نه

وي، څوک افغانستان به نه وي؛ امریکه به نه وي او څوک روس به نه وي؛ څوک چین به نه وي، څوک جاپان به نه وي، چې دا ټوله زمکه به د دې دنیا د ټولو انسانانو د پاره یو وړوکې شان کلی شي چې پکې ټول انسانان په خپل کلو کې د اوسېدو سره د یو بل سره محبت او الفت، ګاونډ والې او د آزادی او د برابری برتاؤ به کوي او امن او چین سره به اوسي. زه داسې سوچ ولې کوم؟ ولې زه داسې سوچ کوم؟ او ولې زه هغه شان سوچ نه کوم لکه چې څنګه نور شریفه او مهذبه او متمدّنه، عاقله او فاضله انسانان سوچ کوي؟
خپل خپل ملکونه، مذهبونه،سماجي ادارې، ګرو بندیانوکې تقسیم شوي. رنګ او نسل، د ملک او قام تفریق د خپلو سینو سره تړلي سوچ کوي. آخر په ما شوي څه دي؟ دا څنګه جان لیوا خواهش او تمنا ده چې هره لحظه زما د روح مضرب مضراب نه مرتعش کیږي؛ چې زما ضمیر ته بار بار وائي چې څوک دي یو څه ووائي، که څوک مني او که نه خو یوه ورځ به ضرور داسې راځي؛ هغه ورځ چې نن راشي، سبا راشي، سل کاله پس راشي، سل زره کاله پس راشي، خو انسان اشرف المخلوقات دی، که د هغه د ژوند څه مصرَف شته، که د هغه د تهذیب څه مقصد شته ، که د هغه د مستقبل څه معراج شته نو هغه ورځ به خامخا راځي چې انسان به د خپل ځان نه تېر شي، خپلو ټولو خامیانو سره به جنګ کوي، په خپلو وحشي جبّلتونو باندې به قابو اچوي، د فطرت د هر راز سینه به برسېره کړي او د بلند و بالا انسانیت روښانه منزل به ومومي! هغه ورځ به ضرور راځي! ضرور راځي!
او د هغې ورځ په انتظار کوَلو پوري ماله پکار ده چې زه دې ژوندی یم او دا ماشوم د خپلې سینې سره ولګوم او دا هم ژوندی وساتم. په خوَرو تیارو کې تښتېدلي رڼا به په غاښونو کې نیسو او ژوندی به ئې ساتو. د تاریکۍ په غورځېدلو ملبې

کې به د رڼا شغله په نوکونو را کنیستل پکار دي او خپلې سینې سره را جوښتول پکار دی. هغه خلګ به په ما پسې خاندي او په ما به توکي او د نفرت نه به مخ واړوي خو ماله پکار دي چې دا زهر وڅښم او د انسانیت د وقارمشعل په خپلي سینې کې فروزان کړم او خپل منزل طرف ته روان شم!
ماشوم ماته حیران وکتل او تپوس ئې وکړو؛
ته څوک ئې؟"
ما ورته ووئیل؛ ' زه ستا کاکا یم"
" کاکا؟" ماشوم په ویره ویره تپوس وکړو، " ته ماله ډوډۍ راکوې؟"
" او زه تاله ډوډۍ درکوم" ما ورته په ډک زړه ووئیل، " ډوډۍ چې په مونږ دواړو کې مشترکه ده"
او بیا څلورو واړو ډډو ته، د سیند دي غاړي نه تر هغي غاړي پوري رڼا ۇ ځلېده. ما ماشوم په دواړو لاسونو کې را اوچت کواو په دواړو مخ مي ښکل کو، د هغه تندی مي ښکل کو، او هغه مي په خپل وږه کښېنولو او د هیلې او امېد هغې وادي ته لاړم چې چرته لمر هیڅ کله نه ډوبیږي!!